# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۰٤) ګڼه / پنجشنبه ۲۹ ربیع‌الثانی ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۰۳ قوس ۱٤۰۱ هـ.ش / ۲٤ نوامبر ۲۰۲۲ میلادی


## ۱۲۵ امبولانس تازه خریداری شده به وزارت صحت عامه تسلیم داده شد

شریعت: اداره امور ۱۲۵ امبولانس را به وزارت صحت عامه تسلیم داد.

یکصد و بیست عرداه واسطه امبولانس که از سوی اداره امور خریداری شده است به وزارت صحت عامه تحویل داده شد.

این امبولانس‌ها که با هزینهٔ شش میلیون و چهار صد و پنجا و یک هزار دالر امریکایی از سوی ریاست تدارکات ملی اداره امور از ازبکستان خریداری شده است که دیروز از سوی شیخ نورالحق انور رییس عمومی... ص۷




## د مس عینک پروژې هوکړه شوي موارد دې ژر عملي شي

شریعت: د ریاست‌الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند، پرون د مس عینک پروژې د قراردادي شرکت (MCC) له اجرائیوي مرستیال اوو مین سره د خپل کار په دفتر کې وکتل.

د اقتصادي مرستیال دفتر د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي په دې لیدنه کې چې د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور هم حاضر و؛ دواړو لوریو د مس عینک پروژې د هوکړه شویو موارودو پر عملي کولو او د دې پروژې د عملي چارو پر پیل هر اړخیزې خبرې وکړې.

د ریاست‌الوزرا اقتصادي مرستیال، د افغانستان اوسنی وضعیت... ۷مخ



### شماری از علما و متنفذین بغلان در دیدار با معاون سیاسی:

## برای حفاظت نظام اسلامی آمادهٔ هر گونه قربانی استیم



شریعت: مولوی عبدالکبیرمعاون سیاسی ریاست الوزرا در دیدار با شماری از بزرگان، متنفذین و علمای ولسوالی بورکه بغلان متعهد به حل مشکلات آنان شد.

دفتر مطبوعاتی ریاست الوزرا دیروز با نشر خبر نامه یی گفته است: در این دیدار که در قصر سپیدار انجام شد، بزرگان،... ص۷

### د کډوالو چارو وزارت:

## کوربه هیوادونو کې باید افغانانو ته د نړیوالو اصولو مطابق حقوق ورکړل شي

شریعت: د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال شیخ عبدالرحمان راشد ولایتي رئیسانو ته د روزنیز ورکشاپ په پیل غونډه کې وویل، چې د اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې امنیت د داډ وړ دی، چې له امله یې څه باندې ۱ میلیون افغانان هېواد ته راستانه شوي دي.

شیخ راشد د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو له عالي کمشنرۍ وغوښتل، چې په کوربه هېوادونو کې... ۷مخ

### سرپرست وزارت تحصیلات عالی:

## تقویت نهادهای تحصیلی و علمی منتج به خودکفایی افغانستان می‌شود




شریعت: سرپرست وزارت تحصیلات عالی در جریان سفر به زون شمال شرق کشور، با استادان نهادهای تحصیلی این زون در پوهنتون کندز دیدار کرد.

در این دیدار شیخ الحدیث مولوی ندا محمد ندیم سرپرست... ص۷

## قندهار کې د ۵۰ کیلومتره سړک رغولو چارې پیل شوې



شریعت: د قندهار د ټولګټو ریاست مسوولین وايي، چې د یاد ولایت په معروف ـ ارغستان ولسوالۍ کې د ۵۰ کیلومتره سړک د رغولو چارې پیل شوې دي.

د ټولګټو وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې یاد سړک معروف ولسوالۍ د ارغستان... ۷مخ

## ننګرهار: په ۳۰۰ جریبه ځمکه کې د مالټو بڼونه جوړېږي



د ننګرهار د کانال ریاست مسوولین وايي، چې د ۴ لسیزو وروسته د کابو ۱۷ میلیونه افغانیو په لګښت د هډې فارم شپږم بلاک په شاوخوا ۳۰۰ جریبه ځمکې کې د مالټو بڼونه او د اوبخور د څاڅکو سیستم جوړېږي.

د یاد بلاک (۱۳۸، ۱۳۶، ۱۳۵، ۱۳۴ ) نمره ځمکې به ۲۶ زره د مالټو... ۷مخ

### معین نشراتی وزارت اطلاعات و فرهنگ:

## رسانه‌های خارجی در گزارش‌های شان از واقعیت‌ها چشم پوشی نکنند




مسوولان وزارت اطلاعات و فرهنگ می گویند: با پیروزی امارت اسلامی تا کنون رسانه‌های ملی و بین المللی در کشور بدون کدام محدویت فعالیت دارند. ص۷

## د بدخشان پامیرونو ته ژمنی مرستې استول کېږي

شریعت: د کابینې د پرېکړې پر بنسټ پامیرونو ته د ژمنیو مرستو د خوراکي او غیر خوراکي توکو د لېږدولو په اړه د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري او د وزارت د سرحدي څېړنو مرستیال شیخ محمد قاسم خالد د لوی او واړه پامیر له مشرانو او استازو سره د توکو د لېږد پر څرنګوالي مشورتي ناسته وکړه.

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت تر سرپرستۍ لاندې پېښو ته د رسېدو، ملي دفاع، مخابراتو، عامې روغتیا، حج او اوقافو او پوهنې وزارتونو ته دنده سپارل شوې، چې ... ۷مخ

سرمقاله

## افغان ولس په تبلیغاتي، اقتصادي او جاسوسي جګړه کې ښکېل دی!

په دې کې هیڅ شک نشته چې موږ ترڅه دپاسه څلورو لسیزو بې مثاله قربانیو وروسته ایله په دې وتوانېدو چې د خپل هېواد لرو برو او ټوله خاوره د پردیو جنګي ځواکونو له تاړاکونو، چاپو او پلټنو خلاصه، ګډوډې او فساد ختم او ګرد سره ملکي او نظامي اداري ایکي یوه مرکزي نظام پورې وتړو. افغان ولس د همدومره لاس ته راوړنې بدل کې انتهایي درنه بیه پرې کړې او بې شانه کړاوونه یې زغملي دي. دا چې په یاده موده کې د وارسا او ناټو دواړو ځواکمنو لښکرو سره زموږ مېړنیو شازلمو تر هغه بریده سختې او خونړۍ جګړې پرمخ بوتلې چې اخر پای یې له دې خاورې په شړلو مجبور او ګرده نړۍ کې بې حیثیته کړل، طبیعي ده چې اوس به یې زموږ پر خلاف زړونو کې دحسد او کینې سختې لمبې بلې وي. اوس موږ همدومره خپلواکي ترلاسه کړې او هر با احساسه وطنپال افغان په همدې سره ویاړي او همدا یو ستر پت او عزت ګڼي. خو بل لورته له دې حقیقته هم څوک سترګې نه شي پټولی چې دا کرېدلی ملت لا هم د ټولو غرضي هېوادونو په سخته تبلیغاتی، اقتصادي او جاسوسي جګړه کې ګیردی. دا جګړه سخته په شدت روانه ده. څکه له یوې خوا همدغو کینه کښو هېوادونو خپل ټول تبلیغاتی ماشین ته افغان ولس په هدف کې ورکړی چې شپه - ورځ یوازې منفي ټکي، ښکرور دروغ او لمسوونکي بیانونه خپروي، بل پلویې زموږ د اقتصادي بسیاینې او پرمختګ د مخنیوي لپاره بندیزونه لګولي او شتمني یې را کنګل کړې او بل لور ته یې داسې پټه استخباراتي جګړه شروع کړې ده چې د اجرتي قاتلانو پرمټ زموږ امنیت ګواښي. مثلاً اختطافونه کوي، په مذهبي مراکزو، جوماتونو او تعلیمي ادارو کې بې رحمه چاودنې کوي او د مهمو شخصیتونو په ترور پسې لګیا دي. دغه تخریبکاره ډله اوس مهال د بهرنیانو له همیانۍ دڅو ناچیزه پیسو ټکو ګټلونه پرته بله هیڅ کومه اجندا او داعیه نه لري، خو باداران یې بیا د ازادۍ او بشري حقونو لپاره یوه مقدسه ملي مبارزه بولي. مطلب دا چې هر بادرده او پر هېواد او ملت خوږمن مسلمان افغان باید کلک باوري اوسي چې پرورانډې یې د پرله پسې کار، جدیت، اخلاص او صبر خورا لوړ پېچومي پاتې دي. نو ترهغه چې یادې لورې - ژورې یې نه وي وهلې او د ځان بسیاینې لپاره یې بشپړ کار او هڅه هاند نه وي کړی، نه به نړیوال د سرېتوب په سترګه ورته وګوري، نه به یې پت او ناموس خوندي شي او نه به د پردیو له احتیاجه خلاص. بنا پردې اوس وخت راغلی چې ملا، طالب، استاد، سیاستوال، ملک، مخور او هر ټولنیز او مسلکي شخصیت د موجوده لاس ته راغلې خپلواکۍ قدر وکړي، د نظام د اصلاح او استحکام لپاره ګټورې مشورې ورکړي او د ملي ګټو د ساتنې لپاره بشپړ جدیت څرګند کړي. همدا رنګه بله ضروري... ۲مخ

## د افغاني سرې میاشتې او غالب پوهنتون ترمنځ د ګډو همکاریو هوکړه وشوه




د افغاني سرې میاشتې د سرپرست عمومي رئیس ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص او د غالب پوهنتون د استازي دوکتور مفتي محمد اسحاق نوري ترمنځ پرون د ګډو همکاریو دوه اړخیز درې کلن هوکړه لیک لاسلیک شو.

د یاد هوکړه لیک له مخې به غالب پوهنتون د کال په هر سمستر کې هغو ۵ تنو ته د لیسانس د دورې ۵ سکالرشیپونه ورکوي، چې د افغاني سرې میاشتې له لورې... ۷مخ

## غور کې د ۸ میلیونه افغانیو په لګښت د اوبو رسولو ۵ پروژې بشپړې شوې



شریعت: د غور د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست مسوولین وايي، چې د دغه ولایت په مرکز فیروزکوه سربېره څو ولسوالیو کې د اوبو رسولو ۵ شبکې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د غور د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست مطبوعاتي مسوول ذبیح الله غوثي زاده وايي، چې د اوبو رسولو دغه ۵ شبکې په مرکز فیروزکوه، ... ۷مخ

## پکتیکا: له سلګونو زلزله ځپلو سره نغدي مرسته وشوه

د پکتیکا د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې ریاست مسوولین وايي، چې د دغه ولایت په برمل ولسوالۍ کې پر ۱۶۶۹ زلزله ځپلو کورنیو مرسته ووېشل شوه.

د پکتیکا د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې رئیس وویل، چې د دغه ولایت په ۴۸ کلیو کې ۱۶۶۹ زلزله ځپلو کورنیو باندې د IOM موسسې له لورې پر هرې کورنۍ ۱۷ زره ۵۰۰ افغنۍ ووېشل شوې.


نگاهی به حکومت‌داری الکترونیکی ۲مخ

اسلام ماته خوړلې، که مسلمان !؟ ٤مخ

نظام‌ها در سایه همکاری مردم به بالندگی می‌رسند ص۳


## کمک نقدی یونیسف با ۱۱۱ هزار خانوادهٔ نیازمند



شریعت: یونیسف برای ۱۱۱هزار خانوادهٔ نیازمند پول نقد کمک می‌کند.

همزمان با نگرانی‌ها از تشدید بحران بشری در جریان زمستان امسال در افغانستان، صندوق وجهی سازمان ملل متحد برای کودکان (یونیسف) ... ص۷

## هلمند کې د ۷ میلیونو افغانیو په ارزښت د یوه پارک رغولو چارې پیل شوې



شریعت: د هلمند د مرکز لښکرګاه ښار په دریمه ناحیه کې د ۷۰۰ مترو په اوږدوالي د پارک دوهم لاټ د رغولو چارې د ۶ میلیونه۷۲۴ زره او ۷۴۵ افغانیو په ارزښت پیل شوې.

په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د لښکرګاه ښاروالۍ ... ۷مخ

# د سیاست پېژندنه

**لیکنه: مولوي نورالحق مظهري**

سیاست چې په لغت کې د حکومت، حکومتولۍ او د رعیت د اصلاح په معنی سره راځي په اصطلاح کې ښې حکومتولۍ او مصلحت پیژندني ته ویل کیږي چې اوس یې ډېری خلک د حکومتي چارو په پوهنه کې هم استعمالوي او هغه چا ته سیاسي وایي چې د حکومتي چارو کارپوه وي. خو د اصل مادې او مصداق په لحاظ سیاسي هغه چا ته ویل کیږي چې په ټولنه کې مثبت مصلحتونه پیژني، سم حاکمیت کولای سي او تر خپل واک لاندي رعیت په صحي توګه کنټرول کولای سي. د سیاست همدغه تعبیر ته په کتو سره موږ ویلای سو چې یو علم سیاست دی یو خپله سیاست دی؛ علم سیاست چې محتوی یې مصلحت او حاکمیت پیژندنه ده ممکن د ډېرو خلکو سره وي؛ ځکه همیشه په نړۍ کې داسي کسان سته چې د خپلې ټولني په مصلحت او حاکمیت باندي علم لري او هغه شیان پیژني چې په مټ یې په خلکو کې اصلاح او سمون راتلای سي. خو خپله سیاست بیا یواځې د هغه چا لپاره ثابتېدلای سي چې حاکمیت او واک ولري لکه أبي الوفاء بن عقیل الحنبلي چې ویلي دي: سیاست هغه دی چې په کارونو کې راځي، خلک اصلاح ته نژدې کوي او د فساد څخه یې لیري کوي خو پدې شرط چې د شرعي حکم سره به یې صراحتا ټکر نه وي. همدا راز ابن نجیم حنفي رحمه الله فرمایي: سیاست د حاکم لخوا د هغه کارونو کول دي چې د خلکو لپاره مصلحت پکښې وي. خو کله چې د سیاست د توري څخه کفارو او منحرفو انسانانو هم کار واخیست؛ خپلو ډېرو غلطو کارونو ته یې سیاست وویل او خپل ډېر منحرف انسانان یې په سیاسیونو باندي ونومول نو د مسلمانانو لخوا د سیاست سره د «شرعي» توري مختاړې ورسره یو ځای سو چې مطلق سیاست په شرعي سیاست باندي تبدیل سو او مخکې ټول تعبیرونه او تعریفونه چې راغلي دي هغه د شرعي سیاست لپاره دي نه د مطلق عرفي سیاست لپاره ځکه په کومه معنی چې کفار او منحرف انسانان د سیاست تفسیر کوي په هغه معنی په سیاست کې هیڅه ځانګړتیا او ګټه د بشریت لپاره نسته بلکې سر تر پایه بدبختي او تباهي ده ځکه په کفري او منحرف سیاست کې د عدل او آمانتدارۍ په نوم هیڅ شی نسته تر څو د بشریت لپاره د ښه ژوند او سوکالۍ تضمین وکړي. نو داسي ویلای سو چې یو عادل سیاست دی چې هغه ته موږ شرعي سیاست وایو او بل ظالم سیاست دی چې هغه ته کفري یا منحرف سیاست وایو.

د اصلي سیاست سره ځکه موږ د شرعي لفظ ایږدو چې اصلي سیاست د شریعت څخه بېل نه بلکې د شریعت نه جلا کېدونکی جزء دی او بېله سیاسته اسلام کامل کېدلای نسي؛ ځکه شریعت باید د انسان د ژوند پر ټولو برخو حاکم وي او حاکمیت بېله سیاسته هیڅه معنی نلري له همدې امله موږ وینو چې په اسلام کې حاکمیت او حاکم ته ډېر اعتبار ورکول سوی دی لکه عثمان رضي الله عنه چې فرمایي: إن الله لیزع بالسلطان ما لا یزع بالقرآن.[شرح سنن أبي داود لعبدالمحسن العباد] یعني: الله پاک په باچا باندي داسي شیان دفع کوي چې په قرآن باندي یې نه دفع کوي. یعني مسلمان باچا دومره مهم دی چې ډېری جرائم او تخلفات دده په ذریعه باندي د ټولني څخه ختمیږي هغه چې په قرآن باندي نه ختمیږي ځکه ډېر خلک قرآن لولي او تلاوت یې کوي خو هیڅ ورڅخه نه متأثره کیږي سره ددې چې په قرآن کې د ګناه کوونکو او مجرمینو لپاره ډېري سزاګاني هم راغلي دي خو د مسلمان باچا له وېري ډېری خلک د جرم څخه لاس اخلي دا ځکه چې مسلمان باچا مجرمینو ته عملا مجازات ورکوي له همدې امله په اسلامي نظام کې د جرمونو کچه ډېره ټیټه وي.

**اصلي سیاسي څوک دی؟**

اصلي سیاسي هغه څوک دی چې مسلمان وي، ښکاره ثابت موقف ولري، د انساني ټولني په مصلحتونو او واقعي ښېرازیو باندي خبر وي، په رښتیني حاکمیت باندي علم ولري، د سیاسي فکر منبع یې شریعت او نبوي سیرت وي، پر اسلامي عدل او آمانتدارۍ باور ولري او د اسلامي حاکمیت عملي کوونکی او غوښتونکی وي.

**منحرف سیاسي څوک دی؟**

منحرف سیاسي هغه څوک دی چې د اصلي سیاست څخه یې فاصله نیولې وي او سیاست د دین څخه بېل بولي چې په معاصر فرهنګ کې ورته سیکولار وایي، سیکولرستان هغه خلک دي چې د اصلي سیاست څخه منحرف سویدي او دین د سیاست څخه بېل شی بولي له همدې امله په سیکولر نظام کې ډېر کارونه د اسلامي اصولو پر خلاف وي او دیني لارښووني او محدودیتونه پکښې د پامه غورځول سویوي.

**په مسلمانانو کې د سیاسي انحراف پیل:**

د کوم وخته څخه چې په مسلمانانو کې دیني پوهاوی کم سوی او اسلامي حاکمیت له منځه تللی د هماغه وخت څخه په مسلمانانو کې سیاسي انحراف هم پیدا سوی. په همدې سبب موږ وینو چې په اسلامي نړۍ کې ګڼې منحرفي ډلې پیدا سویدي او د سیکولرانو په شمول داسي غلط فکرونه پیدا سویدي چې د مسلمانانو د عقایدو او اعمالو خرابول یې لوی هدف دی چې تر ټولو لوی مصیبت د مسلمانانو د ذهن څخه د اسلامي حاکمیت لوېدل دي ځکه په دنیوي ژوند کې د مسلمانانو پوره ښېرازي د یوه قوي اسلامي حاکمیت سره تړلې ده نو چې اسلامي حاکمیت له منځه ولاړی د مسلمانانو ښېرازي هم ورسره ختمه سوه.

**د سیاسي انحراف تاوانونه:**

۱ - سیاسي انحراف ددې سبب جوړیږي چې انسان دي درواغ ووایي، خپل اصلي د انساني فطرت هویت دي پټ کړي، د خیر څخه دي محروم سي او د شر لوري ته دي کش کړل سي.

۲ - سیاسي انحراف د دوست څخه دښمن او د دښمن څخه بادار جوړوي، سیاسي خپلواکي د انسان څخه تښتوي او د غلامۍ په محدودیت کې یې بندي کوي.

۳ - سیاسي انحراف د انسان هوښیاري او عقلانیت ورانوي او حیواني نفس د انسان پر زړه باندي حاکم کوي.

۴ - سیاسي انحراف انساني طبیعت وحشي کوي او په انسانانو کې د حیوانانو بې بندوباره نظام را مینځ ته کوي.

۵ - سیاسي انحراف د حاکمانو څخه وقار او ترحم پورته کوي او دوی په شیطاني عاداتو او فرعوني صفاتو باندي متصف کوي.

۶ - سیاسي انحراف ددې لامل جوړیږي چې انسان دي د هغه ذات څخه چې قادر مطلق دی لیري سي او نیمګړو بشري قدرتونو ته دي متمایل سي.

۷ - سیاسي انحراف عموما د انسان څخه منفي ګرا جوړوي چې په نتیجه کې پر هیڅ مثبت باندي باور نلري او حقایق نه ویني.

# افغان ولس په تبلیغاتي، اقتصادي ...

خبره داده چې باید ټول مشران او کشران له ورو او فرعي مسایلو تېر او د غټو او مهمو مصالحو لپاره کار وکړي. په کار ده چې زموږ د ټولنې د هرې طبقې غړي دا واقعیت هیڅکله له یاده ونه باسي چې موږ خپله دینداري، ناموس داري او خپل پت و عزت یوازې د هېواد په خوندیتوب، خپلواکي -سوکالي او له پردیو د استغنا په صورت کې ساتلی شو، نه د موجوده پرېشانۍ او بې وزلۍ په حالت کې. نو راځئ له هوسونو تېر شو، هر یو خپل ځان لا هم د جګړې په نویو سنګرونو کې محاصره وګڼو، شپه - ورځ د خپلو بې شمېره دښمنانو د شیطاني دسیسو او د جالي پلانونو د شنډولو لپاره فکرو سوچ وکړو او د غوره اغېزناکو تدابیرو په چمتو کولو سره له موجوده ستونزو ځان او هېوادوال وژغورو.

# نگاهی به حکومت‌داری الکترونیکی

**ابوالیاس جهادوال**

حکومت‌داری الکترونیکی (Electronic government ) پدیده ای که در دهه اخیر مورد توجه قرار گرفته و یکی از پدیده های مهم حاصل از به کارگیری فناوری اطلاعات و ارتباطات بوده که پیاده سازی آن تحولی بس عمیقی را در نحوه زنده‌گی، اداره و رهبری کشورها به دنبال داشته است.

در حکومت الکترونیک با استفاده از دانش و فنون جدید اطلاعات و ارتباطات فاصله میان دولت و مردم را کاهش می‌دهد و به شهروندان کمک می‌کند تا خدمات مورد نیاز خود را با هزینه کمتر، با سرعت بیشتر و با کیفیت مطلوبتر از سازمان‌های حکومتی دریافت کنند.

هدف حکومتداری الکترونیکی ارائه خدمات مستقیم و با سرعت و دقت بالا به شهروندان، کارکنان حکومتی، بخش‌های تجارتی و سایر بخش‌های نظام است که این کار هم به نظام (کاهش هزینه های دولت، افزایش سرعت در خدمترسانی و.... )و هم شهروندان (دریافت خدمات با سرعت و دقت بالا، افزایش امنیت اطلاعات و... )تسهیلاتی را فراهم می‌کند.

**تاریخچه:**

واژه حکومت الکترونیک برای اولین بار در سال ۱۹۹۵ در ایالات متحده به‌کار گرفته شد که با مرور زمان مردم سراسر جهان حتی کشورهای رو به انکشاف و عقب مانده نیز کم و بیش با واژه حکومتداری الکترونیکی آشنا شدند و در امورات مختلف حکومت‌داری از آن نیز استفاده می‌کنند. این در حالی‌ست که برخی کشورها حتی قبل از ظهور اینترنت ( دهه ۱۹۸۰) از تکنالوژی اطلاعات برای بهبود اثربخشی فعالیت‌ها و ارتقاء ارتباطات داخلی بهره می‌برند اما در آن زمان حکومت‌داری الکترونیکی صرفاً محدود به بخش‌های داخلی و مدیریتی بود که با مرور زمان این روند سیر انکشافی خود را پیمود.

در اوایل دهه ۱۹۹۰ تیکنالوژی جستجوی ویب ایجاد گردید و اینترنت تبدیل به کارایی هزینه و سهل الوصول برای سازمان‌ها به‌منظور ارتباط مستقیم با شهروندان و ارائه حجم بالای اطلاعات به مردم گردید.

در تاریخچه حکومتداری الکترونیکی سه رویداد نقش بسزایی داشته که مربوط به پروژه سیستم‌های اطلاعات شهری می‌شود، که در سال‌های ۱۹۷۳ تا ۱۹۷۸ در پوهنتون کالیفرنیا، ایروین توسط تیم‌های چند رشته‌یی اجرا ءگردید. این پروژه اولین، بزرگترین و نظامندترین مطالعه تجربی در زمینه خط مشی و پیامدهای مرتبط با کاربری کامپیوتر در سازمان‌های خدماتی پیچیده محسوب می‌شد که در واقع فرآیندهای سیاسی و اجتماعی مستمری که در بحث تیکنالوژی تأثیر گذار هستند ،را روشن ساخت. این محققان رویکردی تئوری سیستم‌های باز فناوری و محیط را اختیار کردند و بر تعامل مستمر بین سازمان‌های دولتی و محیط‌های خارجی و داخلی شان تأکید نمودند. آنها به این نتیجه رسیدند که کامپیوتری کردن باعث تقویت قدرت و تأثیر عوامل و گروه هایی می‌شود که قبلاً بیشترین منابع و قدرت را در سازمان‌ها در اختیار داشتند.

دومین رویداد (سال ۱۹۸۵) انجمن ملی مدارس اداره امور دولتی پیشنهاد نمود که در جهت کامپیوتری کردن امور، باید نخست مهارت‌های مرتبط با آن آموزش داده شود. این پیشنهادات شامل ارائه یک رشته سیر تحول کامپیوتر به‌صورت اجباری برای تمام دانش آموزان، تمرکز مدیریت اطلاعات در چند پوهنتون و یکپارچگی مهارت‌ها و دانش کامپیوتر در رشته های اداره امور دولتی می‌باشد.

سومین رویداد، تحت مقاله ای در سال ۱۹۸٦ توسط بزمن٤ و برت اشنایدر در مجله اداره امور عمومی به چاپ رسید. این مقاله در واقع سرآغازی در رابطه با کاربرد اینترنت و ویب و در نهایت مفهوم تکامل یافته حکومت الکترونیکی بود.

**تعاریف:**

از حکومتداری الکترونیکی تعاریف گوناگونی ارائه شده که برخی از آنها قرار ذیل است:

- کسب‌وکار الکترونیکی در یک کشور که در آن از زیرساخت واحد استفاده می‌شود؛
- سازماندهی دوباره خدمات شهروندی به کمک تیکنالوژی اطلاعات ؛
- استفاده از تیکنالوژی اطلاعات و ارتباطات برای ارتقاء کارایی، اثر بخشی، شفافیت تبادلات و تعاملات اطلاعاتی میان حکومت‌ها و در داخل نظام‌ها؛
- تجارت الکترونیکی که توسط بخش حکومتی مورد استفاده قرار می‌گیرد؛
- استفاده تکنالوژی به‌ویژه تیکنالوژی مبتنی بر وب در جهت ارتقای دسترسی به اطلاعات و خدمات عمومی؛
- استفاده آسان از فناوری اطلاعات در جهت ارائه خدمات دولتی به صورت مستقیم به مشتریان در طول هفته و در طول ۲٤ ساعت شبانه روز ؛
- تأمین کننده ارتباط بین حکومت‌ها و مشتریان شان( بخش تجاری، دولت‌ها دیگر و شهروندان) و تهیه کننده‌گان خود( بخش تجاری، دولت های دیگر و شهروندان) با استفاده از ابزارهای الکترونیکی؛و
- استفاده حکومت از تیکنالوژی به‌خصوص فناوری ارتباطات و اطلاعات به‌منظور ارتقاء دسترسی و ارائه خدمات و اطلاعات حکومتی به مردم، شرکاء تجاری، کارمندان و دیگر دستگاه ها و حکومت‌ها.

**خدمات:**

خدماتی که ذریعه حکومت‌داری الکترونیکی ارائه می‌شود، قرار ذیل است:

۱- پرداخت؛
۲- خدمات یک‌بار مصرف دولتی؛
۳- خدمات مشاوره از راه دور؛
٤- خدمات دلالی؛
۵- فورم‌های الکترونیکی؛
٦- نظر خواهی؛
۷- کاریابی؛
۸- ارائه داده‌های آماری؛
۹- خدمات بازار؛
۱۰- خدمات پلیس الکترونیکی؛
۱۱- خدمات سیاست گذاری الکترونیکی و...
۱۲- خدمات ثبت الکترونیکی.

**مزایا:**

گام برداشتن در راه تحقق حکومت‌داری الکترونیکی از اولین برنامه‌های نظام‌های قرن بیست و یکم بوده و برخی از کشورها در این عرصه به رقابت پرداخته اند، زیرا این شیوه جدید حکومتداری دارای برخی از مزایایی به شرح ذیل است:

۱- کاهش تشریفات دست‌وپا گیر؛
۲- ارائه خدمات الکترونیکی؛
۳- اطلاع‌رسانی الکترونیکی؛
٤- تأمین رضایت شهروندان؛
۵- افزایش اقتدار ملی؛
٦- افزایش بهره‌وری؛
۷- توسعه مشارکت مردمی؛
۸- شفافیت امور و کاهش رشوه خواری؛
۹- تصمیم‌گیری سریع مبتنی بر اطلاعات؛
۱۰- اثرآت مثبت محیط زیستی؛ و ...
۱۱- کارآفرینی.

**مدل ها:**

برای پیاده‌سازی حکومت‌داری الکترونیکی مدل‌هایی ارائه شده و ممکن کشورهای گوناگون از مدل‌های متفاوتی استفاده کنند ولی در اینجا صرفاً به مدل پنج مرحه‌یی سازمان ملل متحد اکتفاء می‌شود:

الف) مرحله پیدایش یا ظهور؛ در این مرحله کشورها از طریق ایجاد یک ویب‌سایت کوچک در ویب عمومی حضور می‌یابند. ادارات دولتی نیز سایت‌های اینترنتی خود را ایجاد می‌کنند.

ب) مرحله ارتقا یا توسعه؛ تعداد صفحات ویب در این مرحله افزایش می‌یابد و اطلاعات موجود روی آن‌ها بیشتر می‌شود. همچنین سایت‌های اینترنتی پویاتر خواهند شد. اطلاعات به‌صورت پویا و متنوع ارائه و سریع‌تر به‌روز شده و به شکل کاتالوگ، خبرنامه و ماشین‌های جستجو در دسترس است.

ج) مرحله تعامل؛ ارائه اطلاعات بر اساس نیاز مراجعان سازماندهی می‌شود و کاربران می‌توانند با پست الکترونیکی یا تکمیل کاربرگ‌های الکترونیکی با سازمان مربوطه ارتباط برقرار کنند. بنابراین در این مرحله ارتباط دوطرفه بیشتری میان مشتریان و سازمان‌ها برقرار می‌شود.

د) مرحله تراکنش یا تبادل؛ کاربران می‌توانند از خدمات بر خط استفاده کنند، برای دریافت خدمات مبلغ مورد نظر خود را بپردازند و فرایند مالی با درجه امنیت مورد نیاز را به صورت بر خط انجام دهند.

ه) مرحله یکپارچگی یا ادغام؛ در این مرحله، همه خدمات و اطلاعات دولتی، به‌سادگی توسط اینترنت قابل دسترس می‌باشد. وظایف همه سازمان‌ها به‌صورت الکترونیکی یکپارچه شده و در فضای دیجیتال مرزهای متمایزکننده ادارات برداشته شده‌اند.

ادامه دارد...

# د دولتي شرکتونو عمومي ریاست را ګرځول شوي ځمکي او وداني

د دولتي شرکتونو لوی ریاست د مالیې وزارت یوه ستره عایداتي برخه ده، چې د ټولو دولتي شرکتونو رهبري او مدیریت پر غاړه لري، دا شرکت په دې توانېدلی، چې د اسلامي امارت تر واکمنېدو وروسته د دولتي شرکتونو اړوند لاندي ځمکي له غصب څه راوګرځوي.

۱- کندوز سپین زر (۲۷۱۶.۳۰) جریبه ځمکه؛
۲- د افغانستان نفت او ګاز شرکت (۴،۰۳۲) جریبه ځمکه؛
۳- د ارزاقو شرکت (۳۴) جریبه ځمکه؛
۴- د هوټلونو شرکت (۵)جریبه ځمکه؛
۵- ملي بس شرکت (۵،۰) جریبه ځمکه؛
۶- د کندهار نساجي شرکت (۵۱) جریبه ځمکه؛
۷- د بلخ نباتي غوړیو او پنبې شرکت (۲،۸۸۷) جریبه ځمکه؛
۸- د مرکز بار وړلو شرکت (۱۰،۵) جریبه ځمکه؛
۹- د اصلاح سوو تخمونو شرکت (۹۵۵۸،۷۱۳) جریبه ځمکه؛
۱۰- د پلخمري نساجي شرکت (۳۷،۵) جریبه ځمکه؛
۱۱- شمال د ډېرو سکرو شرکت (۵۰۵) جریبه ځمکه؛
۱۲- د فارمسي شرکت (۶،۵) جریبه ځمکه؛
۱۳- د افتتو شرکت (۰۶،۰) جریبه ځمکه؛
۱۴- د افسوټر شرکت (۱۶،۸) جریبه ځمکه؛
۱۵- د غوري سیمټو دولتي شرکت (۱،۵) جریبه ځمکه؛
۱۶- د کور جوړوني شرکت (۰،۶۵۱) جریبه ځمکه؛
۱۷- د بنایي شرکت (۴۶،۴۲) جریبه ځمکه؛
۱۸- د افغاني ودانیز شرکت (۰،۷۵) جریبه ځمکه؛
۱۹- د هلمند ودانیز شرکت (۱۰۳۵) جریبه ځمکه؛
۲۰- د بغلان شکر شرکت موازي (۱۱۱۱) جریبه ځمکه؛
۲۱- د افغان نساجي موازي شرکت (۵۷،۹۲۶) جریبه ځمکه؛

پورته ذکر سوي جایدادونه د دولتي شرکتونو عمومي ریاست له لوري له زورواکو، غاصبینو او دولتي ادارو څخه بېرته د دولتي شرکتونو ملکیت ته را ګرځول سوي دي.

یادونه: د افغانستان اسلامي امارت د کابینې څلورمي ګڼې مصوبې او دویمي فقرې پر بنسټ (۴۶) موارده د دولتي شرکتونو غصب سوي جایدادونه د مالي او اداري کمېسیون له لوري ګمارل سوي کمېسیون ته د بیا پوښتني په موخه استول سوي دي.

### آگاهان:

# نظام‌ها در سایه همکاری مردم به بالندگی می‌رسند

**اسفندیار**

مردم تکیه گاه مطمئن نظام های سیاسی به شمار می‌روند. پشتوانه مردمی، یک نظام را از خطرات بیمه می کند. دولت‌مردان یک نظام کار آمد، خدمت‌گاران مردم استند. آنان به نمایندگی از مردم به حل و فصل امور می‌پردازند. صداقت در این نوع نظام‌ها سبب می‌شود تا مردم اطمینان هر چه بیشتر حاصل کنند که دولتمردان در راستای فلاح و رستکاری آنها تلاش می‌کنند و مسایل امور را به خوبی به پیش می‌برند.

نظام امارت اسلامی نیز از همین دسته‌نظام‌های است که پیوسته خود را در خدمت مردم می‌داند و تمام تلاش وکوشش دولت‌مردان ورهبران حکومت امارت اسلامی این است که زمینهٔ رفاه، امنیت وآسایش شهروندان را برابر کند. اهداف جامعه ما را تحقق ببخشند وکشور را به سوی فردا های روشن وآینده سعادت‌مند ببرند.

از سوی هم حمایت مردم از نظام موجود، ضامن موفقیت وکامیابی حکومت در تحقق اهدافش که همانا نجات وترقی کشور وتامین رفاه و امن برای مردم وشهروندان است، می باشد. حکومت می خواهد؛ کشور دیگر درگیر جنگ‌های فرسایشی نباشد، وحدت و همدلی در میان مردم نهادینه شود، اقتصاد رونق بگیرد ،آبادانی و اعمار کشور به عنوان یک برنامه دراز مدت عملی شود وسر انجام کشور از منجلاب مشکلات وچالش های فرا روی خود بیرون رود، این همه، وقتی امکان تحقق می یابد که مردم و شهروندان هم احساس مسئوولیت کنند وهم دست در دست حکومت دهد و تمام توان وظرفیت ملی موجود در این راستا به کار گرفته شود. زیرا بدون حمایت مردم، خیلی دشوار و حتی نا ممکن است که حکومت به این اهداف نایل گردد.

آگاهان به این باور اند که پشتوانه مردمی نظام در همه عرصه ها تعیین کننده است. چون همیشه شهروندان ومردم در هر زمینه حکومت را در رسیدن به اهداف ومقاصدش در هدایت کشور وجامعه به سوی سعادت، نیک بختی، رفاه وآسایش مدد و مساعدت می‌رساند.

با این حال دیده می‌شود که حکومت امارت اسلامی حمایت قاطع مردم را با خود دارد و در یک سال گذشته از پیچ وخم زمانه عبور وبا حوادث ناگوار مقابله وبحران ها وچالش های را با قامت رسا از پیش رو برداشته واینک قوی تر از همیشه به سوی اهداف خود در حرکت می‌باشد که این از برکت حمایت وپشتیبانی مردم بوده است. بدون شک مردم و شهروندان از نظام موجود که در واقع تحقق دهنده آرمان‌ها وآرزو های خود می‌دانند به مثابه مردمک چشم خود حفاظت ونگهداری خواهند کرد ودر راه رسیدن به اهداف ومقاصدش کمک ومساعدت خواهد نمود.

محمد ناصر صالحی اگاه مسائل اجتماعی می‌گوید که بقا و دوام حکومت‌ها و نظام‌های سیاسی وابسته به حمایت مردم است و هر نظامی که به خاطر رفاه و آسایش مردم تلاش کند بدون شک حمایت و همکاری مردم را با خود خواهد داشت.

به گفته آقای صالحی حکومت قبلی در افغانستان حمایت مردمی را به همراه نداشت و هر سال فاصله میان مردم و حکومت بیشتر می‌شد و همین‌طور پیوسته به شدت انزجار مردم از نظام افزوده می‌شد تا اینکه حکومت از هم فرو پاشید. اما در کنار آن مردم نیز متحمل رنج‌های بی‌شماری شدند. امروزه تمام نا به سامانی‌ها و مشکلات موجود که دامن‌گیر جامعه است محصول و نتیجه بی‌کفایتی حکومت‌گذشته در دو دهه اخیر است، چون سران آن حکومت اندکترین اراده خدمت به مردم را نداشتند و تعهد خدمت به وطن در ضمیر شان وجود نداشت. در بیست سال گذشته ملیاردها دالر به نام مردم رنج‌دیده به این کشور سرازیر شد و اندک کار بنیادی برای مردم صورت نگرفت. همه کمک‌ها حیف و میل شدند؛ نصف شان از طریق انجوها خارجی دوباره از وطن خارج شد و نصف دیگرش را سران حکومت فساد پیشه غارت کردند و خویش خوری نمودند و حتی در روز سقوط ننگین شان نیز دست از دزدی بیت المال بر نداشتند و با فرار شان پول مردم بیچاره را با خود بردند. بناً تجربه ثابت کرده است و تاریخ نشان می‌دهد هر نظامی که حمایت مردم را با خود نداشته باشد دیر یا زود محکوم به شکست است، چون ما شاهد بودیم که بیست سال پیش هیچ کسی باور نمی‌کرد که حکومتی که به حمایت بزرگترین قدرت جهان در افغانستان بنا نهاده شده بود سقوط کند، ولی ما دیدیم که هیچ قدرت بزرگتر از قدرت مردم نبود و نیست. چندین بار قدرت‌های جهان در افغانستان بخت آزمایی کرده اند و هیچ‌گاه نتوانستند در عدم حمایت مردم جلوی سقوط نظام های دست نشانده شان را بگیرند.

آقای صالحی افزود، اکنون خوشبختانه دست خارجی‌ها از وطن کوتاه شده و این فرصت بزرگی است برای مردم و حکومت امارت اسلامی تا با همکاری و هم‌نوای یکدیگر کشور را بسازند و ستون‌های مستحکم را از اعتماد، تعهد و خدمت به وطن بنا کنند که هیچ گاهی نلرزد.

# رسنیزه جګړه؛ د اسلامي نظام پر وړاندې یوه بله هڅه!

**محمد آصف آزاد**

غرب او د اسلامي نظام دښمنان په ټول توان هڅه کوي چې اسلامي نظام بریا ته پرینږدي او له هرې لارې او له هره اړخه یې په یو نه یو ډول له ستونزو، خنډونو او چیلېنجونو سره مخ کړي. هغه که د مخامخ جګړو له لارې وي او یا هم له اقتصادي بندیزونو، رسنیزو جګړو او تبلیغاتو او یا هم له هرې بلې ممکنه لارې وي. غرب په نړۍ کې هر ډول نظامونه زغمي؛ شاهي او سلطنتي، جمهوري او دیموکراتیک، مذهبي (له اسلام پرته) او غیر مذهبي، بېدینه او سیکولر دا ټول مورږ وینو چې نړۍ کې شته. غرب ورسره کومه ستونزه نلري. راکړه ورکړه او تعامل هم ورسره لري. په رسمیت یې هم پېژني. خو په دې دومره لویه نړۍ کې او د دومره لوی شمېر مسلمانانو باوجود د نړۍ په یوه څنډه کې هم اسلامي نظام نشي زغملی! دوی هیڅکله هم نه غواړي نړۍ د عادل اسلامي نظام نمونه یو ځل بیا ووینې؛ ځکه په دې سره به بیا د دوی ناچله نظریې، نظامونه او حکومتونه ان پخپله غرب کې هم اخیستونکي ونلري! دوی پوهیږي، که دا ناکاره نړۍ، دا وحشت او بربریت ځپلې نړۍ، دا وضعي قوانینو محکومه کړې او غلامه کړې نړۍ یو ځل بیا د اسلام حاکمیت ووینې؛ نو بیا به ان خپل غربي وګړي هم له اسلام پرته په بل نظام قانع نکړای شي. نن چې په نوره نړۍ کې د اسلامي نظام په وړاندې خنډونه ایجادوي او مخه یې نیسي؛ بیا به په غرب کې هم ورته دا چاره ستونزمنه کیږي. دوی پوهیږي، هغه ډیموکراسي چې څه په زور، څه په زر او څه په چل او تذویر یې په نړۍ منلې یا تحمیل کړې؛ نور د ناکامۍ و خواته روانه ده. خپله بایډن وایي چې ډیموکراسي مو له ګواښ سره مخ ده! غرب پوهیږي چې ډیموکراسي په څومره شدت د زوال په طرف روانه ده. دا په داسې حال کې چې په بدیل کې یې نړۍ ته بل څه نلري. دوی نه خوښوي؛ خو پوهیږي چې راتلونکې د اسلام دی او د نړۍ ملتونه په ډېرې ناکرارۍ د اسلام حاکمیت ته شېبې شماري! له همدې امله، کله یې چې په افغانستان کې ماته وخوړه او فزیکي جګړې او اشغال ترک ته اړ شول؛ رسنیزه جګړه یې لا هماغسې په ټول توان ګرمه وساتله. له رسنیو او نړیوالو سازمانونو داسې څرګندونې خپروي چې په افغانستان کې شته اسلامي نظام خدای مکړه ناکام وښیي. خپلو شل کلنو ناکامیو او جنایاتو ته ښه بڼه ورکړي او د ننني اسلامي نظام بریاوې او لاسته راوړنې د نړۍ له سترګو پټې کړي.

رسنۍ نه وایي، هغه هېواد کې چې د امریکا جمع ناټو او متحدینو یې د سوله ساتو په نوم شل کاله جګړه وکړه، خو هېواد یې د یوې ورځې لپاره هم آمن نکړای شو؛ نن ورځ د نړۍ له کم ساري امنیت څخه برخمن دی.

رسنۍ نه وایي، هغه هېواد چې د اداري فساد له امله د نړۍ لومړۍ نمبر وو؛ نن پکې فساد نشته.

رسنۍ نه وایي، هغه هېواد چې هلته صفر شوي کوکنار د امریکا او متحدینو د شتون او جګړې پر وخت د کوکنار د کښت او قاچاق په لومړي لېست کې راغلی وو؛ اوس پکې کوکنار بېرته له منځه وړل شوي.

رسنۍ نه وایي، هغه هېواد چې امریکا او ملګري یې پکې واکمن وو، د معتادینو شمېر پکې له څلورو ملیونو واوښت؛ خو اوس معتادینو د زیاتوالي پر ځای روغتونونو ته وړل کیږي. رسنۍ نه وایي، هغه هېواد چې د کلنۍ بودیجې ۷۰ سلنه یې د نورو په مرستو ولاړه وه؛ نن یې په خپله د پوره کولو توان موندلی.

رسنۍ نه وایي، هغه تحلیل چې ویل کېده به، په افغانستان کې به اداري نظام له منځه لاړ شي او ادارې به فلج شي؛ خو د یوې ورځې لپاره هم اداري غیر فعاله نشوې. رسنۍ نه وایي، هغه تحلیل چې ویل کېده به، افغاني کرنسۍ به خپل ارزښت له لاسه ورکړي او بانکونه به سقوط شي؛ خو برعکس بانکونه فعال او افغانیو خپل ارزښت تر پخوا لوړ وساته.

او... په دې ټولو تحولاتو، فعالیتونو او پرمختګونو باندې رسنۍ او نړیوال سازمانونه او ادارې غلې دي. خو وضعیت کاملاً د دې برعکس انځوروي.

**بېلګې یې ولولئ!** د همدې نومبر په لومړۍ نېټه م.م وویل چې په افغانستان کې د کوکنارو کښت ۳۲ سلنه زیات شوی! په داسې حال کې چې د همدې کال په اپرېل کې عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله په افغانستان کې د کوکنارو کرکیله په مطلق ډول منع اعلان کړه. په ۲۰۰۱م کال کې هم، کله چې اسلامي امارت د کوکنارو کښت باندې بندیز ولګاوه او صفر ته را ښکته شول؛ غربي رسنیو او نړیوالو ادارو د اسلامي امارت دغه اقدام د ستاینې پر ځای د کوکنارو د بیې لوړولو لپاره ګڼلی وو!

دا له اسلامي نظام سره د دوی عقده او دښمني څرګندوي.

دې تېر اکتوبر میاشت کې د ګالوپ په نوم یوې مؤسسې افغانستان د نړۍ تر ټولو ناامنه هېواد یاد کړ!

سړی حیران شي چې دا خلک په دروغ ویلو او سپینسترګۍ کې څومره مخکې تللي؟! یادې مؤسسې ویلي چې افغانستان کې د غلاوو پېښې زیاتې شوي؛ خو که د هغه کابل له اوسېدونکو وپوښتو، چېرته چې د شپې ګرځېدل ځان خپله په خطر کې ورکول ګڼل کېدل او ان د یو موبایل او ساعت لپاره خلک وهل کېدل او وژل کېدل؛ نن ورځ یې ځواب همدا وي چې ډاډه ګرځي او هر وخت او هر چېرې تللی شي.

رسنۍ او نړیوالې ادارې افغانستان د ښځو لپاره خوندي نه ګڼي! خو په دې حقیقت سترګې پټوي؛ کله چې دلته امریکا او ملګري یې واکمن وو، ښځه نه خو په ادارو کې په امن وه او نه هم په کور کې د دوی د چاپو او بمبار څخه مصؤنه وه. پرون ترې زندانونه ډک وو، نن یوه هم زندان کې نشته. پرون یې پر وړاندې ورونه او اولادونه په سپیو داړل کېدل او په ماینونو الوځول کېدل؛ نن هغه د وحشت حالات ټول له منځه تللي. خو د رسنیو او نړیوالو ادارو غبرګونونه د شته وضعیت په خلاف دي! زما باور دی چې غرب به هیڅکله هم د اسلامي نظام په وړاندې له رسنیزې جګړې، پروپاګند، تبلیغاتو او له هرې په توان پوره بلې وسیلې څخه دریغ ونکړي او خپله جګړه به روانه ساتي. نو مسلمانانو، په ځانګړې توګه افغانانو ته په کار ده چې دې جګړې ته متوجه واوسي. هو، دوی به دا جګړه ونه دروي. موږ ته په کار ده چې ویښ، ځیرک او فعال واوسو.

۱.۱ ته د حکومت او نظام په حیث په کار ده چې په خپلو رسنیو پانګونه وکړي. دې اړخ ته دې هم په کمه سترګه نه ګوري؛ مصرف دې وکړي، د امکاناتو برابرولو ټوله هڅه دې وکړي، افراد دې وروزي. له شته رسنیو او امکاناتو دې اعظمي استفاده وشي. وضعیت دې ګونګ او مبهم نه پرېږدي؛ چې مغرضو او دښمنو رسنیو ته د پروپاګند زمینه برابره شي او د ولسونو تر منځ د بېځایه شکونو او بدګومانیو پیدا کولو سبب شي. د پردیو او پردیپالو هغو رسنیو چې زموږ د دین، هېواد او ملي ګټو او رښتینو ژورنالېستیکو اصولو په خلاف خپرونې او نشرات کوي؛ د هغوی د کنترول هڅه دې وکړي. هېواد کې شته خصوصي رسنۍ دې اسلامي او ملي ارزښتونو او ګټو ته اولیت ورکړي. د نورو په ګټه نشراتو څخه دې د دین او هېواد د ګټو په خاطر صرف نظر وکړي. واقعیتونو ته دې پوښښ ورکړي. او د هېواد د رښتیني انځور خپرولو هڅه دې وکړي. د پوهاوي په لوړولو کې دې هڅه وکړي. موږ عامو هېوادوالو ته هم په کار ده چې د نړیوالو مغرضو رسنیو دا له دوه مخې ډک چلند درک کړو. د دوی په پروپاګند او له واقعیت لرې نشراتو باور ونکړو. او د الله جل جلاله دې امر ته همېشه پام وکړو چې فرمایي:

ژباړه: «اې مؤمنانو! که کوم فاسق تاسې ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسې (د خبر په اړه) پلټنه او تحقیق وکړئ، هسې نه چې کومې ډلې ته په ناپوهۍ سره ضرر ورسوئ او بیا پخپلو کړو پښېمانه شئ.» الحجرات: ۶

# له اتحاد پرته، پرمختګ ناممکن دی!

**سلیمان سعید**

خپل منځي وحدت د هرې ډلې، قوم او ملت د کامیابي او پرمختګ لپاره لومړنی او اساسي شرط دی. کاڼی له وړو، وړو ذرو جوړ شوی، که همدا کلک کاڼی میده شي، نو هیڅ هم نه دی. د خښتو له یو ځای کېدو څخه لوی، لوی دیوالونه جوړیږي. اوسپنه هم د همداسې کوچنیو ذراتو مجموعه ده. واړه، واړه تارونه او پخې سره یو ځای کیږي او قوي ټوکر ترې جوړیږي. که خپل چاپېریال ته نظر وکړو، اکثره شیان همداسې د وړو، وړو ذرو له یو ځای کېدو څخه رامنځ ته کیږي.

وایي: یو سپین ږیري د زنکدن پر مهال خپلو زامنو ته د اتحاد، زغم او یووالي وصیت کاوه. غوښتل یې هغوی ته عملي درس ورکړي، نو یوه ګېډۍ لښتې یې راوغوښتې. یوه، یوه لښته یې هر زوی ته ورکړه او د ماتولو یې ورته وویل. ټولو خپله، خپله لښته ماته کړه. بیا یې ټولې لښتې یو ځای سره وتړلې او خپلو زامنو ته یې ورکړې، ویل: دا ګېډۍ مات کړئ. هر یو خپل زور وازمایه، خو ګېډۍ یې مات نه کړ. نو پلار خپلو زامنو ته وویل، که متحد واست، هیڅوک به تاسې ته ضرر نه شي رسولی. خو که سره جلا او خپلو کې مخالف شوئ، همداسې یو، یو به ماتېږئ!

دغه راز؛ یوه بله کیسه ده، وایي: یوه ځنګل کې درې غوایي اوسېدل: سور، سپین او تور. د زمري پر دوی درې وارو یو ځای زور نه رسېده، نو پلان یې جوړ کړ، چې دوی سره تقسیم او بیا یو، یو نوشي جان کړي. نو تور او سپین غوایي ته ور په څنګ شو، هغوی ته یې وویل: تاسې دواړه ډېر ښایسته یاست، خو دا سور بې چاره بیخي بدرنګه دی، غوایي خو یا تور وي او یا سپین. همداسې نورې پارونکې او اختلاف اچونکې خبرې یې هم وکړې. تر دې چې بالآخره یې دوی دواړه دې ته اماده کړل، چې د سور غوایي پر ضد راپاڅي، هغوی وویل: نو چاره څه ده؟ زمري وویل: تاسې ترې بې غمه شئ، زه به یې درته دانګې، وانګې کړم. هماغه ؤ چې سور غوایي یې راچپه کړ، خو هغوی نورو دوو یې په خوشحالي سیل کاوه. بیا یې څه موده وروسته تور غوایي ته وویل: فقط ته اصیل غوایی یې، دا سپین خو ډېر کبرجن دی، تا سره یې هم چندان جوړه نه ده ، یوازې یوازې ګرځي. دا به هم ختم کړو، بس زه او ته به بې غمه خپله ملګرتیا پالو. تور غوایي هم ورسره ومنله. بالآخره چالاکه زمري، سپین غوایی هم له ستوني تېر کړ. بیا یې نو پر تور غوایي هم زور بر شو، خو هغه سره یې هیڅ بحث او مناقشه ونه کړه، فقط یوه غوټه کې یې ټوټه، ټوټه کړ!

د اتحاد په اړه ډېرې کیسې شته، په خپل ژوند کې هم په دې اړه ډېرې تجربې لرو او د عقل فیصله هم دا ده، چې د کامیابي راز «اتحاد» دی.

همداراز؛ په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې هم ډېر ځایه موږ ته د اتحاد او اتفاق لارښوونه شوې او د اختلاف په صورت کې د سخت عذاب وعیدونه راغلي.

ولې د اسلامي په اوایلو کې مسلمانان کامیاب وو، خو اوس له ذلت او ناکامي سره مخ دي؟!

ځکه چې هلته مسلمانانو اتحاد الهي حکم او د کامیابي راز ګڼانه، مګر نن موږ د دښمن لومو کې ګېر یو، یو د بل پښې وهو او اختلافات خپروو. نن زموږ مسلمانان ورونه د کفارو تر حکم لاندې ژوند کوي او د هغوی په غلامي کې عزت لټوي، خو د خپل مسلمان ورور حکم ته غاړه نه ږدي. پخوا مسلمانان ځکه کامیاب وو، چې هغوی یو امت وو، مګر نن اسلامي امت په لسګونو برخو وېشل شوی او بیا هر هېواد پر لسګونو ډلو تقسیم شوی. نو حتماً به کمزوري یو!

موږ د افغانستان په جغرافیه کې ژوند کوو، نو ټولو افغانانو ته دا توصیه کوو، چې راځئ هر ډول اختلافات شاته وغورځوو او په مشترکاتو سره راټول شو. جزئي ستونزې هر چېرته شته، خو باید زموږ تر منځ د اختلاف او تجزیې لامل نه شي.

اوس چې الحمدلله؛ په هېواد کې جګړه پای ته رسېدلې او د پرمختګ لپاره مو یو چانس تر لاسه کړی، نو باید له دې فرصت څخه جدي استفاده وکړو.

نسبت نورو اقوامو ته، د افغانستان اکثریت ولس ډېر دینداره دی، اکثره کورنیو د اسلامي نظام د حاکمیت او خپلواکي تر لاسه کولو لپاره ډېرې قربانۍ ورکړې. نو هغوی خو باید حتماً د دغه اسلامي نظام حمایت وکړي، تنظیمي تړاو او ګټو څخه باید تېر شي. دا د ټولو مسلمانانو ګډه کښتۍ ده. له اسلامپالو ور هاخوا، نورو هېوادوالو ته وایو: راځئ له دغه سوله ییز فرصت او ثبات څخه استفاده وکړو او له مادي اړخه خپل هېواد د نورو سیال کړو. د پرمختګ لپاره عیاشي او فحاشي نه ده شرط، امنیت شرط دی او همت په کار دی. اوس الحمدلله، د هیڅ ډول پرمختګ مخه څوک نه نیسي، هر څه مو په خپل واک کې دي او نظام مو د هرې پروژې پوره قدرداني کوي. همداراز؛ د اسلامي امارت مسؤلین هم باید پوره زغم او حوصله ولري او په هیڅ صورت دښمن ته فرصت ورنه کړي، چې د افغان ملت تر منځ اختلاف واچوي. اوس باید د طالب او غیر طالب له نومه تېر شو، دا وطن د ټولو کور دی. واک دې له علماؤ سره وي، همدا د الله تعالی حکم دی او علماء د ځمکې پر مخ د خلافت مسؤلیت لري، مګر په نورو چارو کې باید هر چا سره همغږي او تحمل وشي. نبي علیه السلام له یهودو سره تړون وکړ، تر څو د مکې له مشرکینو سره مقابلې ته فارغ شي. نو اسلامي امارت هم باید ټولې وړې لانجې هاخوا کړې او د نظام د پرمختګ او بقا لپاره شپه، ورځ کار وشي. تر خپله وسه باید هڅه وشي، چې یو افغان هم مرور او جدا پاتې نه شي، ټولو سره باید د خپلو مشترکاتو پر اساس یو تړون او اتحاد ولرو. تر څو دښمن زموږ خپل ورونه، زموږ پر خلاف ونه کاروي. همدا د نظام او ملت د کامیابي او پایښت یوازنۍ نسخه ده!

# مطالعه مفید در چند نکته‌ی مختصر

محمدصادق طارق

مطالعه به عنوان عامل اساسی و بنیادی پیشرفت انسان در ابعاد گوناگون علمی به شمار می‌رود. محصل موفّقِ علوم عصری و شاگرد ممتازِ علوم دینی هَر اندازه در میدان تحصیل علمِ و دانش پیش‌تاز گردد، اتکای او به همان اندازه بر معلم و استاد کاهش پیدا می‌کند. به همین دلیل پرسش‌هایی را که در ذهنش می‌نشیند یا اطلاعاتی را که لازم دارد، بدون توسل به دیگران؛ از طریق مطالعه از درون کتاب‌ها و منابع دیگر بیرون می‌کشد. اما اکثر اوقات رعایت نکردن شیوه‌ی درست مطالعه، خواننده را پس از مدتی از مطالعه کتاب‌های قطور و علمی، دل‌سرد و خسته می‌کند و در نتیجه او را از ادامه دادن به مطالعه باز می‌دارد. به همین دلیل در این مقاله روش مطلوب مطالعه و چند نکته مختصر را جهت مفید واقع شدن آن، یادآوری می‌نمائیم تا با کار گرفتن از آنها، امکان پیشرفت در تحصیل بیش‌تر شود.

**• موضوع مورد علاقه را انتخاب کنید!**

نخستین نکته‌ی مهم در علاقه پیدا نمودن به فرهنگ مطالعه و کتاب‌خوانی، انتخاب نمودن موضوع مورد علاقه می‌باشد. به موضوعی که مطالعه‌اش می‌کنید باید تمایل قلبی داشته باشید. حتی در موردش کنج‌کاو شوید زیرا کنج‌کاوی به مثابه‌ی اشتهای ذهن است اگر ذهن تان اشتها داشته نباشد آماده هضم نمودن مطالبی را که می‌خوانید، نمی‌باشد.

**• شرائط ذهنی مطالعه را مهیا نمائید!**

شرایط ذهنی از نکات مهم یک مطالعه مفید به شمار می‌رود که میزان علاقه‌مندی به فرهنگ کتاب‌خوانی را بالا می‌برد. روان شناسان معتقدند یکی از بروز مشکلات جوانان در زمینه‌ی مطالعه، بی‌توجهی به شرایط و فضای مطالعه است که اغلب موجب خستگی و کاهش انگیزه‌ی شان می‌شود. مطالعه باید هنگام آرامش و داشتن رضایت باشد، زیرا دغدغه و نگرانی در هنگام مطالعه، نتایج مطلوبی برای انسان به همراه نخواهد داشت. افسردگی فکر و ذهن و خستگی روح و جسم، توان فرد را کاهش می‌دهد و در این حالت، مطالعه کتاب، جز اتلاف وقت سودی ندارد.

**• زمان مطالعه را مشخص و منظم کنید!**

جهت بهره‌مند شدن از مطالعه لازم است هر روز، وقت خاصی در نظر گرفته شود. از افراد خانواده و آشنایان بخواهید در وقت خاص مطالعه مزاحمتان نشوند مگر اینکه کاملا ضروری باشد. انسان زمانی که اعمال مختلف را در فاصله‌های معینی انجام دهد، آن را آسان‌تر انجام خواهد داد. برای مثال اگر عادت کنیم در ساعت معین هر روز غذا میل کنیم، به طور طبیعی در آن ساعت گرسنه می‌شویم. چنانچه وقت معینی را در روز به مطالعه اختصاص دهیم در آن موقع ذهن آماده‌تر خواهد بود. هنر مطالعه موثر فقط با تمرین مستمر به وجود می‌آید. اگر روزی مطالعه را فراموش کنیم، روز بعد به آسانی از یاد ما خواهد رفت.

زمان مشخص مطالعه برای افراد تفاوت می‌کند، برخی در سکوت شب و برخی نیز هنگام صبح را به عنوان زمان مطالعه انتخاب می‌کنند، اما مطالعه را صبح زود شروع کنید، زیرا ذهن انسان پس از چند ساعت استراحت و آرامش، بیش از هر زمان دیگر آماده یادگیری است.

**• با دقت و حوصله مطالعه نمائید!**

کتاب را همواره بدون شتاب و عجله مطالعه کنید؛ تا زمانی که مطلبی را به درستی فرا نگرفته‌اید سراغ مطالعه مطلب دیگر نروید. جهش از مطالعه یک موضوع به موضوع دیگر، بدون درنظر گرفتن فاصله، سبب می‌شود که دو مطلب درهم آمیخته شوند و در نتیجه هیچکدام از دو مطلب به درستی در ذهن باقی نماند. برای تغییر موضوع مطالعه همواره سعی کنید یک وقفه ایجاد کنید تا مطالب جدید و پیشین در هم آمیخته نشود.

**• وسایل ارتباطی و الکترونیکی را استفاده نکیند !**

یکی از بدترین انواع حواس پرتی که در حین مطالعه مزاحمت ایجاد می‌کند وسائل الکترونیکی و ارتباطی است. فقط یک موبایل و یا هر وسیله الکترونیکی دیگر می تواند از چندین جهت به شما آسیب برساند و در حین مطالعه حواس تان را به چیز دیگر مشغول کند. ارسال و دریافت پیامک یا داشتن هر نوع فعالیت غیر مقصودی در شبکه‌ها و فضاهای اجتماعی باعث خواهد شد تا شما مطالعه را کنار گذاشته و به فعالیت‌های ظاهراً جذاب‌تر بپردازید. سعی کنید هنگام مطالعه تمام وسایل ارتباطی را از دسترس خارج کنید به این روش می‌توانید برنامه‌ی مطالعه را منظم و بهتر پیش ببرید.

**• آنچه را مطالعه می‌کنید یادداشت کنید!**

یادداشت برداری از مهم‌ترین شیوه‌های مطالعه‌ی درست است؛ این کار باعث می‌شود مطالب مهم کتاب را همواره در دسترس تان قرار دهد.

خلاصه‌نویسی کمک می‌کند حجم زیاد مطالب یک کتاب را یادداشت کنید و با مراجعه به آن، در مدت بسیار کوتاهی گویا دوباره کتاب را بخوانید و به خاطر بسپارید.

# اسلام ماته خوړلې، که مسلمان!؟

فرید احمد مبارز

نیږدې یوه پیړۍ کیږي چې ټولې اسلامي خاوري پر (۵۷) یا زیاتو کم تو تو ویشل شوي دي، هري ټوټې ته یې جلا سرحد، بیرغ کلتور او داسي نور څه ورکول شوي دي، په خپلو مینځو کي په اختلافاتو او جنګ اخته دي، په ځینو اسلامي خاورو کي شریعت یوازي په اخلاقو، عباداتو او ځنیو نورو عادي مسایلو کي تطبیق کیږي او پر دې باندي اکتفا کوي، دا عوامل ددې لامل شوي دي، چې یو شمیر خلک داسي وانګیري چې ګواکي اسلام مشکلات نه شي حلولای او اسلامي مبارزي ډلي د انزوا، کړاوونه، سختۍ او بلاخره دا تفکر رامنځته کیږي چې ګواکي اسلام ناکامه دی، په ځانګړې توګه سیکولران او د اسلام دښمنان د دغه حالت څخه بیا د اسلام د بدنامولو لپاره استفاده کوي، د اسلام پر وړاندي خپلي ناولي خولې خلاصي او پر اسلام نیوکي کوي.

مګر که یو څه ژور فکر وکړو او د اسلامي تاریخ پاڼي واړوو، یو څو پیړۍ مخکي تاریخ مطالعه کړو، نو هلته به د اسلامي اُمت د عروج او عزت پیړۍ ووینو، هلته به د عمر بن خطاب او عمر بن عبدالعزیز (رضي الله تعالی عنهم) عدالت وګورو. هلته به د اسلامي پوځ پیاوړتیا او ځواکمنتیا وګورو، چې د روم او فارس تاریخي امپراتورۍ نسکوري وې، هلته به د اسلامي خاوري سرحدونه د فرانسې تر څنډو وګورو، د مځکي پر مخ چا د اسلام لښکر نه شوای ماتولای. اسلامي خاوري د علم او ساینس مرکزونه وو، د اسلامي خاوري په پراخه جغرافیه کي چا د فقر کرښه نه پیژندله، یو مسکین او فقیر انسان هم نه پیدا کیدی. یهودو به اسلامي خاورو ته د عیسیویانو د شکنجو او ظلمونو څخه راتښتیدل، د اسلامي دولت څخه یې پناه اخیسته. یعني اسلامي خاوره د امن، سکون، عدالت، ساینس، پرمختګ او اقتصادي پیاوړتیا خاوره وه.

دا هر څه افسانې نه دي، په دغو واقعیتونو باندي تاریخونه ډک دي، حتا غربیان هم دا خبره مني. پورتني بریالیتوبونه د ځینو خلفاوو او د اسلامي اُمت د مشرانو کمال نه ګڼل کیږي، بلکي دا کمال د اسلامي شریعت وو، د اشخاصو او افرادو رول یوازي دومره وو، چې د اسلام سم پوهاوی یې درلود، اسلامي شریعت یې په سمه او پوره توګه پلي کوی.

اسلام کابو (۱۳) پیړۍ حاکم وو، او د پوره حاکمیت پر مهال اسلامي دولت د نړۍ لومړۍ مهم ځواک وو، اسلام هغه وخت د بشر ټولې ستونزي حلولې، نو د نن عصر څخه نیولې د قیامت تر ورځي پوري هم د بشر ستونزي حلولای شي، دا ځکه چې د نن ورځي او د زرګونو کلونو مخکي انسانانو اصلیت او ماهیت بدلون نه دی کړی، د انسانانو اړتیاوي او غرایز نه دي بدل شوي.

بله بنسټیزه خبره دا ده چې اسلامي شریعت بشري پدیده او زیږنده نه ده، چې د پخوانیو وختونو د واقعیت د معالجې لپاره رامنځته شوې وي، بلکي اسلامي شریعت د الله سبحانه وتعالی وحي ده او بشر د الله سبحانه وتعالی مخلوق دی، الله سبحانه وتعالی خپل مخلوق تر هر چا ښه پیژني، نو دا ممکنه نه ده چې الله سبحانه وتعالی دي خپل وروستی شریعت یو داسي شریعت رالیږلی وي، چې یوازي د یو څو پیړیو ستونزه په حل شي، وروسته د بشر ستونزي نه شي حل کولای او بلاخره ناکام وبلل شي، اسلامي شریعت د الله سبحانه وتعالی وحې ده او الله سبحانه وتعالی داسي شریعت نه دی نازل کړی چې هغه دي مشکلاتو ته جواب نه شي ویلای، بلاخره ناتوانه شي او ماته وخوري.

دا به ددې معنا ولري چې نعوذ بالله د الله سبحانه وتعالی وحي ماته وخوړه او نعوذ باالله، الله سبحانه وتعالی داسي څه نازل کړي وو، چې د بشر ستونزي یې نه شوای هوارولای، په داسي حال کي چې د الله سبحانه وتعالی وحي یعني قرآن کریم او سنت هم شته، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د حکومتولۍ سنت او تګلاره، همداراز د خلفای راشدینو، اموي، عباسي او عثماني خلافت تګلاري او تاریخ هم شته، مګر بیا هم مسلمانان ناکامه کیږي، نو اصلي ستونزه چیري ده!؟

دغه ستونزه دوه بنسټیز لاملونه لري، چې په لاندي ډول دي:

لومړی د اسلام په اړه د حاکمو ډلو ناسم پوهاوی یا د اسلام څخه د حاکمو ډلو ځانګړی تعبیر. زیاتره وخت هغه اسلامي ډلي چې د اسلام تر سرلیک لاندي جوړ شوي دي، د اسلام او شریعت په نامه داسي څه پلي کوي، چې هغه د اسلام د روح سره ټکر لري. د دغو ډلو مشران د اسلام څخه یو ځانګړی تعبیر اخیستی وي او زیاتره وخت د دوی دغه تعبیر سم نه وي. له همدې امله کله چې دا ناسم تعبیر او یا د خپلي نیمګړي پوهي څخه کوم څه د قانون او دستور په نامه تطبیقوي، نو زیاتره وخت د ستونزو د حل پر ځای نوري ستونزي زیږوي، ناورینونه رامنځته کوي او بلاخره حکومت یې ناکامه کیږي.

دوهم د ټولني او یا هم د نړیوالو فشارونو د امله د اسلام ناسم تطبیق، زیاتره وختونه هغه ډلي چې د اسلام په نامه جوړ شوي دي او یا هم جوړیږي هغه څه تطبیقوي چې د ټولني او یا هم د نړیوالو د فشارونو د امله د اسلام ځیني احکام وي. دغه ډول اسلامي ډلي د تدریجي تطبیق تر سرلیک لاندي د اسلام داسي احکام پلي کوي چې د ټولني یوه برخه او نړیوال ورسره خوښ وي، کوم غبرګون نه راپاروي، په ځانګړې توګه کله چې د حکومت د بهرني سیاست او اقتصاد خبره کیږي، دوی د نړیوالو د بیري د اسلام بهرنی سیاست نه پری تطبیقوي.

دا خبره سمه نه ده چې ګواکي اوس مهال اسلام ماته خوړلې ده او یا اسلام د بشر ستونزي نه شي حلولای، په اصل کي مسلمانانو ماته خوړلې ده او دا د مسلمانانو تقصیر دی، چې اسلام یې سم نه دی زده کړی او یا یې سم نه دی پلي کړی. اسلامي شریعت د قیامت تر ورځي د بشر د ټولو ستونزو حل دی، مګر که اسلام سم زده شي او پوره تطبیق شي، نو د اسلامي نړۍ او مسلمانانو ستونزي به حل شي.

# عمري عدالت په قاموس او اصطلاح کې!

پنځمه برخه / جبریل سعد

مهمه دا هم ده چې وپوهېږو ستونزې کومې-په کومه مانا-کومو ځایو کې-له کومې خوا-پر کوم کم او کیف دي، پکې لومړیتوب د کومو ستونزو هواری دی/شي او هممهال یا یو په بلې پسې د کومو ستونزو پر هوارۍ ترکیز پکار دی؟، داسې نه چې ټوله انرژي او پاملرنه بې ځایه او بواځې هلته ولګوو چې دښمن مو د تبلیغاتو، بندیزونو، فشارونو، ښکاره او پټو لاسوهنو او د دې د مستقیمو او نامستقیمو هڅو له لارې پرې مصروف ساتي، له دننه ګواښونکو شته ستونزو څخه مو پرې اغفال راولي او یاهم سرچپه مو بې وخته او بې ځایه زور متلاشي شي، همدېته پر پام ټولو مشرانو ته چې حساب پر کېږي؛ وریادوم: ولس، پخواني مجاهدین، هېواد، دلته پرې را تاو شرائط، چارې او چارواکي رښتوني او قاموس تفسیر کړی عمري عدالت غواړي، د ځلورو لسیزو د سر په قربانیو یې غوښتلی دی، اوس چې یې په برکت او ستاسو پر خواریو د اسلامي امارت ځینې پر شرعي عدل ولاړې کړنې او پرېکړې د عمري عدالت نوم اخلي؛ پکار او ښه موکه ده رښتونی مصداق هم ور کړل شي چې ولس، پخواني مجاهدین، وړپېښې ستونزې، پرې را تاو شرائط او... له هر یوه د خپل مسئولیت په دائره کې غواړي تر جدي څارنه لاندې یې ونیسئ، ځان ترې خبر کړئ او یا هم یې لږ تر لږه په اخلاص د غږ اورېدو هڅه وکړئ، بلّه هیڅ نسخه یې درد نشي دوا کولی او دا مو د مسئولیت د پیل دنده او لومړیتوب جوړېږي چې بیا یې په ښه توګه ترسره کولو لپاره بېلابېلو چارو ته اهل پېژندل او ټاکل وروستۍ دنده ده. که د عمري عدالت پلي کونکي د ولس او مجاهدینو له حال او ستونزو خبر نه وي، ترې د خبرېدو هیڅ لاره نه ویني او غږ یې هم نه اوري(اړوند هوښ او حواس نلري)، خو بیا هم یې چارو ته چارواکي ګماري چې د ناخبرۍ له امله زیاتر یې له اهل پرته غیر اهل ته سپاري چې ورسره لازیات د ولس او پخوانیو مجاهدینو ستونزې ژبغړاندې کېږي، دا نو بیا د عمري عدالت اصطلاح او مصداق دواړه تر یوې فلسفي پوښتنې لاندې کوي چې هیڅوك یې ځواب هم نلري. له خپلې دندې او لومړیتوبه په ناخبرۍ کې د هغې په ښه توګه ترسره کولو د اهل او غیر اهل څرنګه توپیر کولی شي؟ او د دغه اهل او غیر اهل پېژندنې سربېره څرنګه له خپلې دندې بې خبره پاتې کیدی شي؟ او که به دنده یواځې رتبې پوره کول او چوکۍ ډکول وي؟، حقیقت دا دی چې د اهل او نا اهل پېژندنه ډېره نشته، له امله یې مسئولیتونه غیر اهل ته سپارل شوي وي او له نورو لاملونو(چې ځینې مو یې په تېره برخه کې یاد کړل)سربېره د دې یو بنسټیز لامل همدا د ولس، پخوانیو مجاهدینو، چارو او چارواکو له ستونزو او کړنو څخه د حساب د مشرانو ناخبري ښکاري چې په وظیفوي غفلت او بې اطاعتۍ کې شمار دي. که تر وزیرانو او کابینې غړیو پورې هر د حساب مشر ځان خبر کړي، د مسئولیت ترساحې یې غم وخوري او ترې ور هاخوا یې مافوق مرجع ترې خبره کړي؛ په لږه بیز اتومات شکل په لنډ وخت کې رښتونی عمري عدالت عملي مصداق پیدا او درد مو دوا کولی شي او بیا د تل لپاره هم دا لړۍ روانه پاتې کېدلی او یو تر بل مشران د خپلې دندې په ښه توګه ترسره کولو کې په اسانۍ بریالي کېدلی شي. په بل صورت کې دا شونې نه ده چې رتبو ته د رسېدو هڅو، واسطو، ستاینو، چاپلوسیو او لاس پښو وهنو په دې شور او ځوږ کې د هېواد، ولس، مجاهدینو او تر یو عادي پوځي پورې یو په بل پسې ټولو ټیټو چارواکو او افرادو له ماضي، حال، پلانونو او کړنو په ناخبرۍ کې لا هم لکه څرنګه چې پکار دي؛ هم یې چارې درك کړل شي او هم یې اهل او بیا هرڅه پر ځای هم کړل شي، خو روان وضعیت د همدې ناشونې په شونتیا ولاړ دی، نو ځکه نه تر مسئولو مشرانو د چا غږ رسېږي او نه یې غږ اورېدل کېږي.

# له حرام نظر څخه د سترګو ساتلو فایدې!

عبدالرحمن محمود

(۱) زړه به مو د پښیمانۍ له غمه خلاص وي ، ځکه چې مؤمن د ګناه وروسته د پښیمانۍ په عذاب ځوریږي.

(۲) زړه کي به مو نورانیت او حکمت وي ، مشوره به مو پر حقه وي ، فکر او سوچ به مو نه خطاء کیږي .

(۳) د علم دروازې به درته خلاصې وي ، کله کله به په سختو مسائلو کي د الله رب العزت له طرفه إلهام درته کیږي.

(۴) د جهنم دروازې به درڅخه بندې وي ، د شهوت له عذابه به خلاص یاست.

(۵) فراست به ولرئ، باطن به مو د ښه أو بد تمیز په خپل ذوق کولای شي.

روضة المحبین لابن الجوزي.

# د چاپلوسانو چالاکي!

غلام عمر عبدالله

عباسي خلیفه «المتوکل» پر یوې مرغۍ وار وکړ خو مرغۍ ونه لګېدل.

وزیر یې ورته وویل: ډېر ښه! خلیفه ورته کړه: ریشخند/پسخند راوهې؟!

وزیر ویل: نه! تا له مرغۍ سره ښه وکړه چې د بیا ژوند کولو فُرصت دي ورکړ».

(ځکه مي وویل چي ډېر ښه).

[حیاة الحیوان الکبری - (الدمیري)].

# شعر او ادب

## غزل

عاکف امارتي

لکـــه چـــې ستـــوري د اسمـــان قطـار دي
داسې مـې اوښـکې په گـرېـوان قطـــار دي

زړه مـــې کتـــاب دی د نیمگـــړو هیلـو
تــول پـرې یـــادونـه د جـانـــان قطـار دي

زمـــا د ژونـد خـــواږه همـدلـته خـښ دي
دا بـیـرغـــونــه مې پـــه گـــران قـطـار دي

ماښـام دی هـر کور کې ډیوې بلې شـوې
مـــاتـــه بـــې شـمـــیره یتـیمـــان قطـار دي

خان صیب ډوډۍ دې خدای قبوله کړه خو
زه یې چـې گـــورم تـول خـــانـــان قطـار دي

دنیـــــا د زرو خـــزانـــه غـــونـــدې ده
تــرې چـار چـاپـیـــره ښامــاران قطـــار دي

ژونـــد دی تیـــر یـــږي کله ښـه کـلـه بـــد
وخـــتونـــه تـــول پــــه امتحـــان قطار دي

(ملا عاکف) اوس هم هـــا زوړ فقــیر دی
تـــرې حجـیره کـې طـــالبـان قطـــار دي

## سرښکته صلیب!

دادمحمد ناوک

دلـته لا ژونـدی یـم، سـا روانــه ده
دلتـــه دې ببـــرۍ ډوبـه شیطانـه ده
دلتـه کعـبـه دنگـه ده، لا ځـوانـه ده
دلته د صـلیب گـــوزاره گــرانــه ده

د لته د عـــمر د پښـــو پـل ژونـــدی
دلته مو د سپینې پگړۍ ول ژوندی
دلته د دوښمن د مرگ اجل ژوندی
دلتـــه د تکبیـر نغمـه چـالانــه ده

زه د طـــارق اس د پــښـــو گــرد یـــمــه
ډېر یمه؛ کـــه ستـا پـه نظـر فـرد یـمه
شـاتــه منـــډه نـــه لـــرمــه، مرد یـمه
گــــرده زمـــانـــــه راتـــه حـیرانـــه ده

تانه خپـل تـاریخ تـر خـاورو لانـدې دی
ژوند دې د سراب غـوندې پُـل باندې دی
سر دې اوس د سور دوزخ پر وړاندې دی
ز مـــا جـنـت جـنـت خـاوره خنـدانـــه ده

زه د یـــرمــوک کـــرېړه یم، ژونـدۍ یـــمه
زه درتـــه تـــوپـــان یـــمــه سـیلۍ یـــمه
چاوې د جبار* پښو کې زینـدۍ یمــه!؟
دا دنـــــیا پـــه مــا بـــانـــدې ودانـــه ده

تـــه دلـــته پخپـل صلیب په دار شـولې
دلته مـــې پـښو کـې خــواروزار شـولې
زما تر سینه تاو د مـــرگي، ښکـار شـــولې
نـــن دې مـــرۍ بنـــده، مېـــنه ورانـــه ده

دلتـــه صـلـیـب سر ښکته هـــلال ته کړ
ستا بادار یې اړ د جــوړې سـوال تـه کـــړ
نن مو لویدیځ خم، د اسیا خـال* ته کــړ
سپـــینه مـــانۍ زبـون وهـلې مـــانـه ده

# د حضرت محمد صلي الله علیه وسلم سپېڅلی ژوند




## د مکې د فتحې په ورځ د هغه وینا (خطبه)

لیکنه: محمود شلبي / ژباړه: محمد علي عظمت / ۷۰مه برخه

هـر کلـه چـې رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم مکــې مکرمــې تــه ورســېده او مســلمانان ډاډه شــول، رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم ووت، څـو بیـت اللـه تـه ورسـېده، پخپلـه سـپرلی سـپور وو او اوه ځلـه یـې طـواف وکـړ.

کلـه یـې چـې طـواف خـلاص کـړ، د کعبـې پـه دروازه کـې ودرېـده او پـه مسـجد حـرام کـې خلـک ورتـه راغونـډ شـول، نـو ویـې ویـل- ژبـاړه: لـه یـوه اللـه جـل جلالـه پرتـه بـل معبـود نشـته، هغـه یـوازې یـو دی، هغـه شـریک نـه لـري، خپلـه وعـده یـې رښـتیا کـړه، لـه خپـل بنـده سـره یـې مرسـته وکـړه او لښـکروته یـې ماتـې ورکـړه.

خبـردار! هـر ویـاړ (ویاړنـه او فخـر) یـا وینـې او یـا مـال چـې ... هغـه زمـا تـر دې دواړو پښـو لانـدې دی، خـو د بیـت اللـه خدمـت او حاجیانـو تـه اوبـه ورکـول (پـه دې کـې شـامل نـه دي).

خبردار! په خطاء (تېروتنه) شبه العمد

اې د قریشــو ټولیــه! بېشــکه اللــه جــل جلالــه لــه تاســو څخــه د جاهلیــت کبــر واخیســت او پــه پلرونــو بانـدې ویـاړ یـې هـم در نـه لـرې کـړ، انسـان لـه ادم علیـه السـلام څخـه پیـدا شـوی او ادم علیـه السـلام لـه خـاورو نـه پیـدا شـوی دی.

بیـا یـې دا آیـت ولوسـت: ژبـاړه: «اې خلکـو! حقیقـت دا دی، چـې مونـږ تاسـو ټـول لـه یـوه سـړي او ښـځې پیداکـړي یاسـت. او تاسـو مـو پـه مختلفـو قومونـو او کورنیـو وېشـلي یـئ، څـو ښـه یـو بـل وپېژنـئ. پـه حقیقـت کـې د اللـه جـل جلالـه پـه نـزد پـه تاسـو کـې تـر ټولـو عزتمـن هغـه دی، چـې پـه تاسـو کـې لـه ټولـو څخـه زیـات متقـي وي. بـاور وکـړئ، اللـه جـل جلالـه پـه هـر څـه پـوه، لـه هـر څـه باخبـر دی.» د حجـرات سـورت (۱۳) آیـت.

بیـا یـې وویـل: «اې د قریشـو ټولیـه! تاسـو څـه وینـئ (اټـکل کـوئ) چـې زه بـه لـه تاسـو سـره څـه کـوم!؟»

هغــوی وویــل: تــه عزتمــن ســخي ورور یــې او د عزتمــن ســخي ورور زوی یــې.

ده ورته وویل: «ځئ، تاسـو ازاد یاستئ».

اې عثمانـه، دا دی کیلي دې واخله!

بیـا رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم پـه مسـجد کـې کېناسـت، نـو علـي رضـی اللـه عنـه ور پاڅېـده او د کعبـې کیلـي یـې پـه لاس کـې وه، ویـې ویـل: یـا رسـول اللـه! لـه اوبـو ورکولـو سـره حجابـت (د بیـت اللـه سـاتلو) چـارې هـم مونـږ تـه راوسـپاره!

نــو رســول اللــه صلــی اللــه علیــه وســلم وویــل: «عثمــان بــن طلحــه چېرتــه دی؟»

بیـا یـې هغـه راوغوښـت، نـو هغـه تـه یـې وویـل: «عثمانـه، دا دی کیلـې دې واخلـه، نـن ورځ د نیکـي کولـو او وفـا ورځ ده!»

بیت الله څنګه وو؟

(راویـان) روایـت کـوي، چـې د مکـې د فتحـې پـه ورځ رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم بیـت اللـه تـه ننـوت، نـو پـه هغـه کـې یـې د پریښـتو او نـورو انځورونـه ولیـدل.

د ابراهیـم علیـه السـلام انځـور یـې ولیـده، چـې پـه لاس کـې یـې ازلام (د فـال نیولـو غشـي) وو او فـال نیونـه یـې پـرې کولـه!

نـو ویـې ویـل: اللـه جـل جلالـه دې دوی مـړه کـړي، زمونـږ مشـر تـه یـې د فـال نیولـو غشـي پـه لاس کـې ورکـړي!؟ د ابراهیـم علیـه السـلام لـوړ شـان او دا ازلام!؟

بیـا یـې د دې عکسـونو د ورانولـو حکـم وکـړ، نـو هغـه لـه منځـه یـووړل شـول.

حـق راغـی او باطل له منځه لاړ

او لــه ابــن مســعود رضــی اللــه عنــه نــه روایــت دی، وایــي: د مکـې د فتحـې پـه ورځ رسـول اللـه صلـی اللـه علیــه وســلم بیــت اللــه تــه ننــوت او چاپېــره یــې درې ســوه او شــپیته (۳۶۰) بُتــان ولاړ وو، نــو د ده پــه لاس کــې چــې کومــه لښــته وه، پــه هغــه بــه یــې وهــل او ویــل بــه یــې: ژبــاړه: «حــق راغــی او باطــل لاړ، حــق راغـی او باطـل بـه بیـا نـه را ښـکاره شـي او نـه بېرتـه را وګرځــي.» د ســورت آیــت. د بخــاري روایــت.

او د مسـلم پـه روایـت کـې دي، چـې د مکـې د سـوبې پـه ورځ رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم کعبـې تـه ننـوت او پـه کعبـه بانـدې درې سـوه (۳۰۰) بُتـان ولاړ وو، نـو خپلـه لښـته یـې را واخیسـتله، بُـت تـه بـه یـې وښـوروله او هغـه بـه را نسـکور شـو، تـر څـو پـر ټولـو بُتانـو ور تېـر شـو.

او همداشــان رســول اللــه صلــی اللــه علیــه وســلم بیــت اللــه شــریف لــه نجاســاتو (پلیتــو) اوخرافاتــو څخـه پـاک پاکیـزه کـړه، لـه کومـو چـې قریشـو او نـورو بیــت الحــرام والاوو ډک کــړي وو.

اللــه جــل جلالــه مکــه مکرمــه عزتمنــه (محترمــه) کــړې ده!

د مکــې د فتحــې پــه را ســبا خزاعــه قبیلــې د هذیــل قبیلـې پـر یـو سـړي تېـری وکـړ او هغـه یـې وواژه او هغــه مشــرک وو.

نـو رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم وینـا کوونکـی پاڅېـده، ویـې ویـل: اې خلکـو! اللـه جـل جلالـه چـې آسـمانونه او زمکـه پیداکـړي، لـه هغـې څخـه یـې مکـه مکرمــه عزتمنــه، محترمــه، حرامــه ګرځولــې او آن د قیامـت تـر ورځـې پـورې حرامـه، عزتمنـه او محترمـه ده. کـوم انسـان چـې پـه اللـه جـل جلالـه او د اخـرت پـه ورځ ایمـان لـري، هغـه تـه روا نـه ده، چـې پـه دې کـې وینـې تویـې کـړي او ونـه یـې غوڅـه کـړي، نـه لـه مـا نـه مخکـې چـا تـه روا وو او نـه لـه مـا وروسـته چـا تـه روا دي. او مـا تـه هـم لـه دې سـاعته پرتـه حلالـه نـه ده، دا هـم د دې د ظالمـو وګړیـو د ظلـم لـه املـه. خبـردار! بیـا د دې حرمـت بېرتـه هاغسـې شـو، څنګـه چـې پـرون و. نـو لـه تاسـو څخـه کـوم کـس چـې حاضـر دی، هغـه دې غایـب تـه هـم دا ورسـوي. کـه تاسـو تـه چـا وویـل، چـې رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم هـم پـه دې کـې جنـګ کـړی دی، نـو تاسـو ورتـه وواياسـت: بېشکه اللـه جـل جلالـه د خپـل رسـول صلـی اللـه علیـه وسـلم لپـاره حـلال کـړی وو او ستاسـو لپـاره یـې نـه دی حـلال کـړی. اې د خزاعـه ټولیـه! لـه وژلـو مـو خپـل لاس پورتـه کـړئ، بېشـکه چـې وژل زیـات شـو...».

تاسو څه وویل؟

بېشـکه بیـا چـې رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم (کلـه مکـه فتـح او هلتـه ننـوت) پـه صفـا غونـډۍ ودرېـده او لـه اللـه جـل جلالـه یـې دعـا غوښـتله، هغـه تـه یـې زارۍ کولـې او انصـار پـرې راغونـډ شـول.

نـو هغـوی پـه خپلـو منځـو کـې وویـل: آیـا وینـئ، چـې اللـه جـل جلالـه رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم بانـدې لورینـه وکـړه، د ده زمکـه او ښـار یـې ورتـه فتـح کـړ، اوس بـه دلتـه پاتـې کیـږي؟

نـو کلـه چـې هغـه لـه خپلـې دعـا نـه وزګار شـو، ویـې ویـل: «تاسـو څـه وویل؟»

هغـو وویـل: یـا رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم! هیـڅ هـم نـه.

نـو هغـه دوی تـه شـله وو، څـو هغـوی تـه خپلـه خبـره وکړي.

بیـا نبـي کریـم صلـی اللـه علیـه وسـلم وویـل: «زمـا ژونـد لـه تاسـو سـره دی او زمـا مـرګ هـم لـه تاسـو سـره دی».

دالله جل جلاله لور ته د بلنې لپاره سریې استول

بېشـکه رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم د مکـې خواوشـا سـیمو تـه سـریې ولېږلـې، هغـوی د اللـه جـل جلالـه لـوري تـه بلنـه کولـه او د جنـګ امـر نـه وو ورتـه شـوی.

او لـه هغـو څخـه یـې یـو خالـد بـن ولیـد رضـی اللـه عنـه ولېږه او امـر یـې ورتـه وکـړ، چـې د تهامـې لانـدې خـوا د بلونکـي پـه توګـه لاړ شـي، د جنګیالـي پـه حیـث یـې نـه وو استولی.

نـو لـه بنـو جذیمـه قبیلـې سـره مخامـخ شـو، هغـوی چـې کلـه دی ولیـده، وسـلې تـه یـې لاس کـړ، بیـا خالـد رضـی اللـه عنـه ورتـه وویـل: وسـله کېـږدئ، خلکـو اسـلام راوړئ!

او خلکو د خالد بن ولید په وینا وسله کېښـودله.

نـو کلـه چـې هغـوی وسـله کېښـودله، پـه دې وخـت کـې خالـد رضـی اللـه عنـه امـر وکـړ، هغـوی وتـړل شـول، بیـا تـورې تـه وړانـدې کـړل شـول، نـو چـې لـه دوی څـوک ووژل شـول، هغـوی ووژل شـول.

کلـه چـې دا خبـر رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم تـه ورسـېده، آسـمان تـه یـې لاسـونه پورتـه کـړل، بیـا یـې وویـل: «اې اللـه جـل جلالـه! بېشـکه زه لـه هغـه څـه بېـزاره یـم، چـې خالـد بـن ولیـد رضـی اللـه عنـه کـړي دي».

اې اللـه جل جلاله! زه تا ته پناه در وړم

وروسـته لـه هغـه قـوم څخـه یـو سـړی رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم تـه راغـی او لـه هغـه خبـر نـه یـې خبـر کـړ.

بیـا رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم علـي بـن ابوطالــب رضــی اللــه عنــه راوغوښــت، ورتــه یــې وویــل: «اې علــي! دې قــوم تــه ورشــه، د دوی پــه کار نظـر واچـوه او د جاهلیـت کـړه وړه لـه خپلـو قدمونـو لانــدې کــړه».

نــو علــي رضــی اللــه عنــه ووت، روان شــو، څــو هغـو تـه ور ورسـېده او هغـه مـال هـم ورسـره وو، چـې رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم استولی وو. بیـا یـې هغـوی تـه د هغـوی لـه غوښـتنې څخـه زیـات ورکـړ. بیـا بېرتـه رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم تـه راسـتون شـو او هغـه تـه یـې هغـه خبـر ورسـاوه، نـو ورتـه یـې وویـل: «سـم کار دې وکـړ او ښـه دې وکـړ».

بیـا رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم ودرېـده، قبلـې تـه یـې مـخ کـړ، لاسـونه یـې پورتـه کـړل او درې ځلـه یـې وویـل: «اې اللـه جـل جلالـه! زه لـه هغـه څـه بېـزار یـم، چـې خالـد رضـی اللـه عنـه کـړي دي».

خالـد رضی الله عنه عزی نړوي

بیـا رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم خالـد رضـی اللـه عنـه عـزی تـه واسـتاوه.

او هغـه یـو سـتر کـور ، چـې قریشـو یـې درنـاوی کاوه او د کنانـه او مضـر ټولـو قبیلـو یـې هـم تعظیـم کولـو.

کلـه چـې هلتـه خالـد رضـی اللـه عنـه ور ورسـېده، هغـه یـې ونـړاوه، بیـا بېرتـه رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم تـه را وګرځېـده.

د جګړې پای

او د مکـې مکرمـې لـه سـوبې وروسـته رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم هلتـه پنځلـس ورځـې میشـت و او قصـر لمونـځ یـې کولـو.

د مکـې فتـح د هجـرت پـه اتـم د رمضـان پـه میاشـت کـې وشـوه.

## غوره او ناوړه صفت!

حسان مجاهد

ابـو سـعید خـدري رضـي اللـه تعالـی عنـه وایـي: یـوه ورځ لـه مازیګـر وروسـته رسـول اللـه ﷺ ولاړ شـو پـه داسـې حـال کـې چـې مـوږ تـه یـې وعـظ کـول، مـوږ تـه یـې دټولوهغـو شـیانو یادونـه وکـړه چـې دقیامـت تـر ورځـې پـورې مختـه راځـي یـو لـه هغـو څخـه یـې د غضـب (غوسـې) یادونـه هـم وکـړه او ویـې ویـل:

_چاته غوسـه ژر ورځي خو له غوسې څخه ژرسړېږي.

_چاتـه غوسـه پـه کـراره ورځـي خـو پـه کـراره لـه غوسـې سـړېږي، نـو ددوي دواړو ښـه خصلـت دبـد خصلـت مقابـل ده او دوي نـه دسـتایلو وړ دي او نـه، د نـه سـتایلو.

_غـوره پـه تاسـو کـې هغـه څـوک دی چـې غوسـه پـه کـراره ورځـي او لـه غوسـې څخـه بیـا پـه تیـزي سـره سـړیږي.

_او بـد پـه تاسـو کـې هغـه څـوک دی چـې غوسـه ژر ورځـي او لـه غوسـې څخـه بیـا پـه کـراره سـړیږي.

بیـا رسـول اللـه ﷺ دقـرض (پـور) یادونـه وکـړه او ویـې ویـل:

_پـه چـا قـرض بانـدې شـي نـو پـه ښـه توګـه یـې ادا کـوي خـو کـه دده پـه بـل چـا بانـدې شـي نـو غوښـتنه یـې پـه بـدو الفاظـو کـوي.

_کـه پـه ده دچـا قـرض بانـدې شـي نـو پـه بـده توګـه یـې اداکـوي او کـه دده پـه بـل چـا بانـدې شـي نـو پـه ښـو الفاظـو یـې غوښـتنه کـوي، نـو ددوي دواړو هـم ښـه خصلـت دبـد خصلـت مقابـل ده او دوي هـم نـه د سـتایلو وړ دي او نـه، د نـه سـتایلو.

_بهتـره پـه تاسـو کـې هغـه څـوک دی چـې د قـرض ادا هـم پـه ښـه توګـه کـوي او غوښـتنه یـې هـم پـه ښـه توګـه (غـوره الفاظو)کـوي.

_ بـد پـه تاسـو کـې هغـه څـوک دی چـې د قـرض ادا او د قـرض غوښـتنه پـه بـده توګـه کـوي. [ مشـکواة شـریف ص ۴۳۷]

متأسـفانه نـن پـه ډېـرو مسـلمانانو کـې دغـوره صفـت پـه ځـای نـاوړه صفـت ځـای نیولـی وي؛ ډېـرو تـه غوسـه ژر ورځـي او لـه غوسـې بیـا ژر نـه سـړیږي. کـه د یـو چـا پـور وربانـدې شـي؛ نـو سوسـتي پـه کـې کـوي یـا منکـر شـي او کـه دده پـه بـل پـور بانـدې شـي؛ بیـا یـې نـو پـه تیـزي او نـاوړه چلنـد تـرې غوښـتنه کـوي. مـوږ درسـول اللـه ﷺ امـت یـو چـې پـه امتونـو کـې غـوره امـت دی؛ نـو بایـد مـوږ پـه ځانـو کـې غـوره اخـلاق او صفـات پیداکـړو، او لـه نـاوړه صفاتـو څخـه ځـان وژغـورو. کـه پـه روا کارونـو کـې یـو غـوره وي؛ بایـد هغـه کار وکـړو او کـه لـه روا کارونـو څخـه پـه یـوه کـې لـږ غونـدې د نـاروا والـي شـک وي؛ بایـد ځـان تـرې وژغـورو.

# د چاپېريال پاک ساتل د ټولو ګډ مسؤليت دی!

**شاه محمود درويش**

قدرمن هيوادوال په هرارخيزه توګه د ګران هيواد په پاکي ، صفايي او ديو خوندي چاپيريال په رامنځته کولو کې د ايماني او وجداني پلوه ستر مسووليت لري او بايد دغه مسووليت په ښه ډول سرته ورسوي ترهغه چې له امله يې د ژوندانه چاپيريال موله هره پلوه خوندي شي، ځکه پاکي او صفايي په حقيقت کې د انسانانو روغتيا خوندي کوي او ناولی چاپيريال بيا دهغه دښمن په څير دی چې د هر انسان روغتيا او هوساينه تل له ګواښ سره مخامخ کوي، ، بنا لکه څنګه چې وايي ښار د ټولو ګډ کوردی نو په پاکي او صفايي کې يې هم ټول سره ګډ مسووليت او رسالت لري، پردې اساس په ټوليزه توګه قدرمنو هيوادوالوته ښايي چې د خپلو کورونو اضافي توکي او کثافات په هغو ځايونو کې چې د ښاروالۍ لخوا ټاکل شويدی ، واچوی ، چې بيا دښاروالۍ موظف کسان و توانيږي هغه ټاکلو ځايونو ته وليږدوی، له شک پرته هغه لويه ستونزه چې دمګړۍ ناولو اضافي توکو او کثافاتو را پيدا کړې هغه د ميکروبونو ډيروالی او پراختيا ده بايد ددغه شته ستونزو د حل په برخه کې پتمن هيوادوال له اړوندو مراجعو سره هرارخيزه همکاري وکړی، پردې اساس لکه څنګه چې مخکې وويل شول چې ښار د ټولو قدرمنو ښاريانو ګډ کور دی ، نو واقعاً د ګډ کور په پاکي او صفايي کې هم ټول هيوادوال سره ګډ مسووليت لري ، ځکه که چيرې ښار مو ناولی وی نوبې له شکه چې د ناولتياوو دشتون له امله سره له دې چې د ژوند چاپيريال مو ناولی کيږي ، نو د ټول ښار فضا ، اوبه او هوا هم ککړه او ناولې کيږي ، نوکله چې د ښار فضا ناولې او ککړه وي نو په ټوليزه توګه قدرمن ښاريان همدا ناولې هوا تنفس کوي چې په ښکاره توګه په ډول ډول ناروغيو د خلکو د اخته کيدو سبب کيږي ، پردې بنسټ دا دټولو هيوادوالو مسووليت او رسالت دی چې لومړی له کورڅخه نيولی بيا دټول ښار په پاکي او صفايي کې خپل هيڅ راز هلې ځلې او بې دريغه کوښښونه ونه سپموي اوتل د خپل د اوسيدو چاپيريال او هم د ټول ښار په پاکي او صفايي کې ژمن ، بيدار او هڅانده و اوسي ترڅو په دې توګه د ژوندانه چاپيريال مو تل پاک او ښار مو هم ښکلی وي ، دغه راز لومړنی څيز چې د سړي شخصيت خلکوته څرګندوي هغه پاکي او نظافت دی ، ځکه کوم شخص چې د پاکو جامو ، ښکلې او منظمې څيرې سره واوسي نو مخکې له دې چې د هغې علم او کمال مونږ ته را څرګند شي هغه مونږ ته د ښه شخصيت لرونکی ښکاري مګر هغه څوک چې د ډيرو کمالاتو لرونکی وي خو دې خپل پاکي اونظافت ته سمه پاملرنه نه وي کړې ، نو هغه څوک چې د نوموړي شخص له علم او پوهې څخه با خبره دی نو داشخص داسې انګيري چې پاکي او نظافت ته چندان پاملرنه نه کوی ، نوهغه څوک چې ددې په علم او پوهې نه وي خبر نو داشخص ته به هم د يو ډير حقيراو فقير سړي په توګه ګوري ، نوکه چيرې يوشخص د ښه علم ، پوهې او کمال خاوند وي له دې سره سره بيا هم خپله پوهه اوکمال د خيرنو او ناپاکو جامو ترشا ساتي او دخپل ژوند چاپيريال ته ارزښت نه ورکوي او دقدر په سترګوورته نه ګوري نو نه يوازې داچې خپل ځان دټولنې او خلکو په وړاندې ډير حقير ښودي ، بلکې د خپل علم او پوهې پايله هم له پوښتنې سره مخامخ کوي نوکه چيرې غواړئ چې د نظافت او ناولتيا ترمنځ عملاً توپير پيداکړئ ډيره آسانه ده مثلاً له خپلې دندې څخه د فارغيدو په صورت کې چمنونو ، باغونو او نورو ښه ځايونو ته د چکر او ميلو لپاره ورشئ ، نو دهغه ګلونو او شنو چمنونو څخه چې په باغونو کې دي بې له شکه چې په ليدلو يې بيساری خوند ترې اخلئ ، خوبرعکس له ناولو ځايونو څخه نفرت وکړئ او له هغه ځای څخه ځان وباسئ ، سربيره پردې چې د جامو ، بدن ، کور او د اوسيدو چاپيريال پاکي او نظافت د لومړيتوبونو څخه شميرل کيږي دا دهر فرد او بشريت ضرورت هم دی نو ډيره اړتيا لري چې له هغې څخه ساتنه وکړي او تل يې رعايت هم کړي ، البته زمونږ د ديني او اسلامي دندو ، دنيوي او اخروي ګټو څخه يوه هم همدا د پاکي او صفايي رعايت کول دي او داسلام مقدس دين په دې سبب نظافت ته ډير ارزښت ورکوي چې د انسان روغتيا او په زرګونو نورې ګټې په هغې کې نغښتې دي ، پاک خدای (ج) د قرآن عظيم الشان په يو مبارک آيت شريف کې فرمايلي دی ژباړه : « غواړئ چې خدای پيل کړي پرتاسو مشقت مګر غواړئ چې پاک کړي تاسو اوختم کړي نعمت خپل پرتاسو ترڅو چې شکر وکړئ » يعنې حکمت د فرضيت د اوداسه هم همدا نظافت دی چې مسلمان شخص بايد پاک ستره او نظيف وي او په بل آيت شريف کې فرمايي : « هره شيبه خوښوي خدای (ج) توبه کوونکی او خوښوي هغه کسان چې په پاکي او نظافت کې کوښښ کوي » دغه راز داسلام د ستر پيغمبر (ص) په حديث شريف کې هم راغلي دي چې « نظافت جز د ايمان دی » هغه څوک چې د خپل بدن او جامو په پاکي او صفايي کې کوښښ نه کوي د مسلماني له اخلاقو څخه پوره برخمن شوی نه دی ، علماوو ويلي دی : په بدن کې ډير کوچني سوري دي چې د خيرې او خولې پراساس بنديږي او دبدن بخار بهرته نه پريږدي چې ووځي نوپه دې سبب انسان ناروغه کيږي هغه څوک چې خپل بدن او جامې پاکې وساتي نودي ، د دا ډول ناروغيو او امراضو څخه ژغورل کيږي او داسلام په مقدس دين کې پاکی او نظافت کله فرض ، کله واجب او کله سنت او دتل لپاره مستحب دی او د شخصي روغتيا پالنې په رعايت سره کولی شو خپل و جود له بې شميره امراضو او ميکروبونو وقايه کړو .

- د خولې او غاښونو روغتيا پالنه : ميده شوي غذايي مواد چې د غاښونو په منځ کې پاتې کيږي د لږ وخت وروسته فاسد کيږي او په خولې کې د ميکروبونو د راټوليدو ، د خولې د بدبويې ،د وريګانو او غاښونو د خرابيدو سبب کيږي ، پردې اساس د هروخت غذا خوړلو څخه وروسته خوله بايد پاکه پريمينځل شي ، مسواک وهل سنت دی نوبايد د هر وخت غذا خوړلو څخه وروسته حداقل دوه ځله په (٢٤) ساعتونو کې بايد په غاښونو کې برس يا مسواک ووهل شي .

- دبدن روغتيا پالنه : د انسان بدن په ځانګړې توګه د ماشومانو پريمينځل په منظم ډول په ګرمه هوا کې هره ورځ او دسړې هوا په موسم کې حد اقل په اوونۍ کې دوه ځلي اړتيالري بغير ددې هغه واړه سوري د پوستکي د خيرې او خولې پراساس بنديږي او په دې توګه پوستکی خپل ښه والی او تازه والی له لاسه ورکوي نوپه دې توګه دبدن بوی شاوخوا خلک ناراحته کوي .

په دې هيله چې په ټوليزه توګه قدرمن هيوادوال دخپل د اوسيدو چاپيريال تل پاک وساتي او خپل روغتيا پالنې ته هم ډيره پاملرنه وکړي ترهغه چې تل د بشپړې روغتيا په لرلو له هوسا ژوند څخه برخمن او د اوږدمهاله خوښيو لرونکي شي .

# افغان اعلانات

اطلاعیه به کرایه دهی

شرکت سهامی افسوتر یک دربند حویلی که دارای ۳ باب اطاق نشیمن ، آشپزخانه و تشناب عصری ملکیت خویش را واقع شهر پلخمری ولایت بغلان بوده و در موقعیت خیلی مناسب جوار سرک عمومی قرار داد از طریق داوطلبی به کرایه میدهد. اشخاص حقیقی و حکمی که خواهش به کرایه گرفتن آنرا داشته باشند درخواستی و آفرهای خویش را بعد ازنشر اعلان ۲۱ روز به ریاست افسوتر واقع کوچه گلفروشی شهر نو کابل سپرده ، خود و یا نماینده قانونی شان ساعت ۱۰ قبل از ظهر در جلسه افرگشایی حاضر شوند . شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند ، تضمین نقدا اخذ میگردد.۳۰۳٤

***

اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم غلام فاروق فرزند محمد یعقوب ولدیت محمد سمیع دارنده تذکره نمبر ( ۲۸۸٤٦۹ ) مسکونه اصلی ولایت پروان مالک دواخانه احمد رشاد واقع ناحیه پانزدهم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم وحید الله صادقی فرزند عبدالصدیق ولدیت حاجی محمد صادق دارنده تذکره شماره ( ۳۳۸۵۹۲۱٦ ) مسکونه اصلی ولایت پروان گردیده است . اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع چهار راهی حاجی یعقوب خانه نمبر (۲۱٤) مراجعه نمایند.۳۰۳۹

***

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم زاهد فرزند حامد یک عراده موتر پلیت ٤٤۲۷۵-۵ ش کابل نوع تویتا کورلا سالون خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای موسسه INSO بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۰٤۱

***

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم غلام جیلانی فرزند امیر ملک یک عراده موتر پلیت ۷۵٤۷۱-۳ ش کابل نوع تویتا کرولا کانادائی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای موسسه INSO بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۰٤۰

***

اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی به اسم حاجت فرزند سیدا خان و محترمه طریقه بنت تحصیل خان مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۰۳۳

***

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت عادی دارای ویزه کشور عربستان سعودی به اسم بصیر فرزند محمد مصطفی مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۰۳۵

***

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت عادی دارای ویزه کشور عربستان سعودی به اسم خال فرزند محمد مصطفی مفقود گردیده اعتبار ندارد۳۰۳٦

***

اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم عبدالرفیع محمدی فرزند عبدالمنان ولدیت عبدالحمید دارنده تذکره نمبر ( ۱۰۸۱۸-۰۹۰۲-۱۳۹۹ ) مسکونه اصلی ولایت کابل مالک دواخانه ذکی سمیر واقع ناحیه نهم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم حبیب الله نبی زاده فرزند محمد نبی ولدیت عبدالکبیر دارنده تذکره شماره ( ۵۱۰۷۰-۱۰۰۳-۱٤۰۰ ) مسکونه اصلی ولایت کابل گردیده است . اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع چهار راهی حاجی یعقوب خانه نمبر (۲۱٤) مراجعه نمایند.۳۰۳۷

brac

Invitation of tender (OTM) for Solarization Requirement for 120 health facility of 11 Province Procurement.

| | |
|---|---|
| Reference no and date | BRAC /Procurement 0010/2022 22.11.2022 |
| Project Name | UNDP ABADEI projects of BRAC Afghanistan. |
| Tender Name | Solarization Requirement for 120 health facilities of 11 Province Procurement Quantity: As per tender documents and specifications. Bid security: 600,000. Six Hundred Thousand AFN |
| Time of delivery (tentative) | 18th December 2022 |
| Date and time of distribution of tender documents | Tender documents will be available on the ACBAR website from 22.11.2022 to 05.12.2022 Between 9.00 AM to 3.00 PM, and if anyone like to collect the hard copy please visit our office and the address is as below |
| Tender documents dropping place, date & time | BRAC Afghanistan Procurement Department, Baharestan Karte e Parwan Butcher street Lane 04. Kabul Afghanistan before 10:00 AM at date of 06.12.2022 |
| Tender opening place, date and Time | Meeting room Country Office 06.12.2022 10:30 AM, BRAC Afghanistan, Country office Kabul. |

BRAC, Afghanistan Country Office Baharestan Karte e Parwan Butcher street lane 04 . Kabul Afghanistan.
Mob:0705002907

## سازمان ملل و بنیاد آغا خان به ...

امید می رود با این طرح آسیب پذیر ترین افراد جامعه در افغانستان که به دنبال فعالیت‌های اقتصادی استند حمایت شوند این طرح در حال حاضر تنها در بلخ، بامیان، هرات، کابل و ننگرهار قابل اجرا است مگر تعهد وجود دارد که در آینده گسترش یابد.قرار است در سال جاری ۳٤ میلیون افغانی از طریق این طرح در اختیار ۵۰۰ بیجا شده داخلی قرار گیرد.

## بازپسگیری ساختمان کتابخانهٔ...

مطبوعات وقت که، ۱۷ بسوه زمین را احاطه می کند و از ملکیت‌های این ریاست می‌باشد دوباره به این ریاست تسلیم داده شده است.
او علاوه کرد که این تعمیر بعد از ترمیم به عنوان کتابخانه کودک مورد استفاده قرار خواهد گرفت.

## رهایی ده جریب زمین از نزد...

سنگین، باباجی و گرشک و لشــکرگاه از نزد غصب کنندگان واپس گرفته شده است. وی از سازمان یونسکو خواست تا در احیای آبدات تاریخی آنها را کمک کند و از باشندگان هلمند خواست که هنگام بازدید از آبدات تاریخی به درستی از این آبدات محافظت کنند.

## د افغاني سرې میاشتې او غالب پوهنتون...

غالب پوهنتون ته ور وپېژندل شي. همدا ډول به د افغاني سرې میاشتې له لوري ۵ ور پېژندل شــویو کسانو ته د غالب پوهنتون د روغتیایي زده کړو په انستیټیوټ کې وړیا شمولیت ورکول کېږي. د هوکړه لیک پر بنسټ به غالب پوهنتون د افغاني سرې میاشتې له لوري ۲۰ ورپېژندلو محصلینو ته ۵۰ سلنه تخفیف هم ورکوي. همدا ډول هر کال به د انګلیسي ژبې د زده کړې په برخه کې د افغاني سرې میاشتې له لوري ۱۰ ورپېژندل شویو زده کوونکو کې ۳ تنو ته وړیا او ۷ نورو ته په ۵۰ سلنه تخفیف زده کړه ورکول کېږي. د دې تر څنګ به د غالب پوهنتون د معالجوي طب او غاښونو طب ځانګې د افغاني سرې میاشتې د کارکوونکو او رضاکارانو مرسته کوي.د هوکړه لیک له مخې به افغاني ســره میاشت په هرات ولایت کې په خپلو کلینیکونو کې د غالب پوهنتون ستاژ د دورې محصلین مني.

## برای حفاظت نظام اسلامی آمادهٔ...

متنفذین و علمای آن ولسوالی گفتند که مردم بورکه در کنار ملت مجاهد افغانستان به هدف مبارزه با اشغال و قیام نظام اسلامی، قربانی‌های زیادی داده انــد و برای حفاظت آن نیــز به هرگونه قربانی آماده هســتند. آنان مشکلات، خواست‌ها و پیشنهادات شان را در عرصه‌های مختلف با معاون سیاســی ریاست الورزا مطرح کردند. مولوی عبدالکبیر افزون بر این که از حل مشکلات شان اطمینان داد گفت: امارت اسلامی رفع مشکلات مردم و کســب رضایت آنان را از مکلفیت‌های خویش می‌داند' همچنان از آنان خواست که برای تقویت بیشتر نظام اسلامی همکاری کنند.

## د مس عینک د پروژې هوکړه شوي موارد...

یو ښه فرصت وباله او زیاته یې کړه چې د افغانستان اسلامي امارت د مس عینک پروژې د پیل لپاره پوره چمتووالی لري او په دې برخه کې هر ډول همکارۍ ته چمتو دی. دغه راز د (ام.سي.سي) شرکت اجرائیوي مرستیال د پروژې چارو د پیل په برخه کې د ریاست‌الوزرا د اقتصادي مرستیال له هلوځلو منته وکړه او ویې ویل: د عینک له سیمې څخه د لرغونو آثارو تر بشپړ لېږد وروسته به په عملي توګه خپلې چارې پیل کړي. تر دې وړاندې هم د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر، د (ام.سي.سي) شرکت له اجرائیوي مرستیال سره په کتنه کې ویلي و چې دغه شرکت باید د قرارداد له مخې خپل ټول مسئولیتونه او مکلفیتونه ترسره او د یادې پروژې عملي چارې پیل کړي.
د یادونــې وړ ده چې له چین هیواد ســره د دغه ترســره شــوي تړون نږدې څوارلسم کال په پوره کیدو دی او د اسلامی امارت له تحکیم وروسته یې هم دادی دویم کال پوره کیږي خو د عملي کار هیڅ نښه یې نه ترسترګو کیږي.

## کوربه هیوادونو کې باید افغانانو ته...

د افغــان کډوالو ملاتړ او د هغوی ســتونزو ته جدي پاملرنه وکړي. نوموړي په کوربه هېوادونو هم غږ وکړ، چې افغانانو ته دې د نړیوالو اصولو ســره سم د هغــوی حقوق ورکړي. د نوموړي په خبــره، افغانان دې په کوربه هېوادونو کې د قانون مطابق ژوند وکړي او په هېڅ سیاسي او غیر سیاسي تظاهراتو کې دې برخه نه اخلي.

## قندهار کې د ۵۰ کیلومتره سړک د رغولو...

له ولســوالی سره نښلوي چې لګښــت یې د ټولګټو وزارت له لوري ورکول کېږي. د یادونې وړ ده، چې د یاد سړک په رغولو سره سلګونو کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې، چې په بشپړېدو سره به یې د یادو ولسوالیو ترانسپورټي ستونزې هم حل شي.

## ننګرهار: په ۳۰۰ جریبه ځمکه کې د...

بوټي وکرل شي، سمسوره او په شنې ساحې به بدله شي.
د اټکل له مخې ۱۷ میلیونه افغانۍ پرې لګښــت راځي او کابــو ۳۰۰ تنو ته به د کار زمینه برابره شي. د ننګرهار کانال ریاست مسوولین وایي، چې د کرنې د میکانیزه کولو کومې ژمنې مو چې د خپل ولس او هېوادوالو ســره کړې دي یو په بل پسې د عملي کېدو په درشل کې دي. ښه بېلګه یې دا ۳۰۰ جریبه ځمکه ده، چې پرې به مالټه باغونه او د اوبخور د څاڅکو سیستم جوړ او تطبیق شي.

## غور کې د ۸ میلیونه افغانیو په لګښت...

چهارســدې، دولت یار او دولینه ولســوالیو کې جوړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د نوموړي په خبره، دغه شبکې د یونیسف اداري په ۷ میلیونه، ۹٤٤ زره ۵۹٦ افغانیو په مالي ملاتړ جوړې شوې دي. د یادونې وړ ده، چې په نږدې راتلونکې کې به د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست له لوري د اوبو رسولو یو شمېر نورې پروژې هم بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## هلمند کې د ۷ میلیونو افغانیو په ارزښت...

مرســتیال نیک محمد اُمتي وویــل، چې دغه پارک د دغه ولایت د ښــاروالۍ په انکشافي بودجې جوړېږي، چې چارې به یې د ۴ میاشتو په موده کې بشپړې شي.
د دغه ولایت د ښار جوړونې رئیس معتصم مولوي د لښکرګاه ښاروالۍ د مسوولینو د کارونو ستاینه وکړه او غوښتنه یې وکړه، چې د سړکونه، پلګوټو، پلونه او یا هم نورو پروژو د رغولو پر مهال کیفیت ته ډېر پام وکړي.

## افزایش عواید ریاست آبرسانی ...

گذشــته ٥٤ درصــد افزایش را نشــان می‌دهد.وی افزود که ریاســت آبرسانی هرات امسال به خاطر ارائه خدمات بهتر آب رسانی به مردم، حدود ۳۵,۵ کیلومتر پایپ را در سطح شهر توسعه داده است و توسعه شبکه بر اساس خواست مردم و ازدیاد نفوس صورت می‌گیرد.
گفتنــی اســت کــه در حــال حاضر ریاســت آبرســانی هــرات، در شــش ولســوالی ایــن ولایت بــرای نزدیک بــه ۸۰۰ هــزار تــن خدمــات ارائــه می‌کند.

## دوو صرافانو خپلې غلا شوې پیسې ...

ویاند خالد ځدراڼ وایــي، چې یوه ډله غلو تیره ورځ د پل خشک په سیمه کې د صرافۍ له دوو دوکانونو څخه ۱۱ لکــه افغانۍ، ۸ زره امریکایي ډالــر او ۱۹۵ میلیونه ایرانــي تومن غلا کړي وو، چې پرون د امنیتي ځواکونو له لورې یادې پیسې بېرته خپلو اصلي خاوندانو ته وسپارل شوې.
د نومــوړي په وینا د امنیتــي ځواکونو له لوري د غلو نیول کېدو هڅې هم دوام لري.
د یادونــې وړ ده، چــې امنیتــي ځواکونــو تــر دې وړانــدې هــم لسګونه غله نیولــي او غلا شــوي توکي یــې اصلــي خاوندانو ته ســپارلي وو.

## ستایش و قدردانی مسوولان صلیب سرخ از ...

افغانستان دیدار کرد، ملاقات نمود. این دیدار در ارگ انجام شــد، مارتین شوپ رئیس عملیاتی کمیته بین‌المللی صلیب ســرخ' ایلوا فیلیون رئیس نمایندگی این کمیته در افغانستان و چارلوت جوســیو موریل مسؤول برنامه های این نهاد در افغانســتان به خاطر حمایت امارت اسلامی از فعالیت های شان، قدردانی کردند. رئیس عملیاتی کمیته بین‌المللی صلیب سرخ گفت: با وجود اینکه توجه بین المللی به اوکراین است، مگر من خواستم که افغانستان را از نزدیک ببینم و در رابطه بــه آن جامعه بین المللی را پیام بدهم. وی یاد آور شــد: با پیروزی امارت اســلامی تمام سازمان‌ها فعالیت‌های شان را در افغانستان متوقف ســاختند اما کمیته بین المللی صلیب ســرخ فعالیت خویش را دو برابر نمود تا دست نیازمندان را بگیرد. مارتین شوپ خاطرنشان کرد که این کمیته هم اکنون در افغانســتان مصارف ۳۳ شفاخانه را می پردازد و امور این شــفاخانه‌ها به حمایت این کمیته بــه پیش میرود چارلوت جوسیو موریل رئیس برنامه کمیته بین المللی صلیب سرخ در افغانستان، از همکاری های مسئولان امارت اسلامی در رابطه به دسترستی آنان به محبوسین، قدردانی نموده. خانم موریل تصریح کرد که کمیته بین المللی صلیب سرخ در نظر دارد که با اشخاص آسیب پذیر پس از تشخیص آنان، کمک های لازم را انجام دهد. همچنان ما همیشه به هدف حمایت از افغانان، پیشــنهادات خود را به جامعه بین المللی بخاطر رفع تحریم های وضع شده در برابرافغانستان، ارائه کرده ایم.
داکتر عبدالواسع رئیس عمومی دفتر ریاست الوزراء، به نوبه خود از کار مثبت و فعال کمیته بین المللی سرخ در این کشور قدر دانی کرد و از همکاری‌های بیشتر امارت اسلامی با این نهاد، اطمینان داد.
او یاد آور شد که امارت اسلامی با تبلیغات سو مواجه است و تنها بازگو کردن واقعیت‌ها و بیان دستآوردها است که میتواند جهانیان را در مورد امارت اسلامی آگاهی دهد.

## تر ډېره په زېربنایي او بنسټیزو برخو ...

ملکــري ملتونه دې پــه دې حالت کې د افغانســتان خلکو او د بزګرانو کورنیو ســره همکاري وکړي ترڅو خلک له بد اقتصادي وضعیت څخه خلاص شــي.» دغه راز د کرنې وزیر په افغانستان کې د ملکرو ملتونو د پلاوي له مشــرې وغوښــتل، چې تر ډېره د زېربنایي فعالیتونــو په برخه کې لکه ســروخونو، د اوبو بندونو، کرنیزو کانالونو، اصلاح شــوي تخمونه او کیمیاوي سرو په برخه کــې کار وکړي ترڅو خلکو ته د کار زمینه برابره او د دوی اقتصاد ورســره ښه شي. د ملکرو ملتونو د اداري چارواکو د کرنې وزارت د خبــرو هرکلی وکړ او ډاډ یې ورکړ، چې د افغانســتان بزګرانو او مالدارانو ســره د همکاریو زیاتوالــی او دوام ته چمتو دي او دغه راز د نړۍ هېوادونه هڅوي، چې د اســلامي امارت له دولت سره همکاري وکړي.

## کندهار او هلمند کې بهرنیو سیلانیانو ته د ...

ســیلانیانو له بېلابیلو ولایتونو په ځانګړې توګه له کندهاره لیدنه کــړې، چې په خبره یې لا هم بهرني ســیلانیان لېواله دي، څو د کندهار له تاریخي او نورو ځایونو څخه لیدنه وکړي. درې واړه لوریــو په کندهــار او هلمند ولایتونو کې ســیلانیانو ته د ښــې زمینــې برابرولو پــه موخه هراړخیز بحــث او خبرې وکــړې او لازمــې پرېکــړې وشــوې او ترڅنــګ یــې ټینــګار وشــو، ترڅــو د کندهــار او هلمنــد ملکــي او نظامــي اداري پــه خپلــو منځــو کــې بشــپړه همغــږي راولي.

## تر اوسه ۸٤۷ جوماتونه نوي جوړ شوي او ...

کوونکــو پرمخ ترلــې وې. همــدا راز د امربالمعــروف وزارت د مکتوب له صادرولو وروســته په پــروان کې ۱۷۱ جوماتونه فعال شول، چې له جملې یې ٤۱ جوماتونه نوي جوړ شول. د یادولــو ده، چــې د امربالمعــروف د مســوولینو لــه لــوري پــه پلازمېنــه کابــل کــې د آذان لپــاره د لاوډســپیکرونو لــه نصبولــو وروســته د پلازمېنې کابل په شــمول د هېــواد په ډېرې ولایتونــو کې د امربالمعروف د مســوولینو په مرســته ډېرې غیر فعال مسجدونه فعال شــوي، چې ولسي خلک یې له کړنو راضي دي.

## ۱۲۵ امبولانس تازه خریداری شده به وزارت صحت عامه ...

ادارهٔ امور به مســوولان وزارت صحت عامه تحویل داده شد.شــیخ نورالحق انور رییس عمومی ادارهٔ امور هنگام ســپردن این وسایط به وزارت صحت عامه گفت: امارت اسلامی افغانستان بر اســاس نیاز، یکصد و بیست و پنج عراده امبولانس را از کشــور ازبکستان از بودجهٔ امارت اسلامی خریداری کرده است که دیروز به وزارت صحت عامه تحویل داده شــد، که بعدا از سوی این وزارت در اختیار نهادهــای صحی در مرکز و ولایت کشــور قرار خواهد گرفت. او گفت عرضهٔ خدمات صحی برای مردم از اولویت‌های امارت اســلامی می‌باشــد و در این راستا تلاش بیشتر می‌نماید. شــیخ الحدیث مولوی عبدالرحیم رحیمی سرپرست ریاست تدارکات ریاست عمومی ادارهٔ امور در مراســم تحویل دهی این وسایط گفت: تدارکات ملی اجناس مورد نیاز را برای ادارات تهیه و فراهم می‌کند تا ارائه خدمات برای مردم ســهل‌تر شــود و خریداری یکصد و بیســت پنج عراده امبولانس روی همین هدف صورت گرفته است.مولوی محمد اسحاق عاصم صاحب زاده معیــن وزارت صحت عامه از تلاش‌های ریاســت عمومی ادارهٔ امور در راستای فراهم کردن تجهیزات طبی به خصوص امبلانس‌ها برای آن وزارت اظهار سپاس کرد. او گفت این وســایط برای نهادهای صحــی در مرکز و ولایت‌ها توزیع خواهد شد. در اخیر شیخ نورالحق انور از آنانــی که در تهیه و تــدارکات این امبولانس‌ها تلاش کرده بودند تقدیر کرد.

## تقویت نهادهای تحصیلی و علمی منتج به...

وزارت تحصیلات عالی، کار در راستای پیشرفت علم را نیاز مبرم جامعه و کشور خواند و افزود که تلاش بیشتر در این عرصه می تواند کشور را از نیاز به خارجی‌ها نجات دهد. همچنان سرپرست وزارت تحصیلات عالی، از استادان موسسات تحصیلات عالی در زون شمال شرق کشور خواست که با جنگ فکری غرب مبارزه کــرده و از نظام خود حمایت کنند. وی افزود که این نظام مطابق خواست و عقیده شما است و برای بقا و حاکمیت آن تلاش کنید و آن را در عرصه علم و دانش به مدارج عالی برسانید. بعد شماری از استادان نهادهای تحصیلی زون شمال شرق کشور در رابطه تقویت و پیشرفت نظام تحصیلی کشور پیشنهادهای شان را ارائه کردند و اطمینان دادند که با تمام توان در راه آموزش سالم نسل جوان کشور، تلاش خواهند کرد. همچنان سرپرست وزارت تحصیلات عالی، در نشست جدا گانه با محصلان پوهنتون کندز، مشکلات و خواست های آنان را شنید . در این نشست سرپرست وزارت تحصیلات عالی، در صحبت هایش محصلان را مسوولان آینده کشور خواند و از آنان خواست که در آموزش و فراگیری علم و دانش بیشتر از پیش تلاش کنند. وی افزود: کشور ما بعد از مشکلات چندین دهه امروز آزاد است و امنیت کامل در آن حکم فرماست، لازم است که از این فرصت در راستای بلند بردن سطح دانش مسلکی خویش استفاده کنید و شب و روز تلاش کنید تا مصدر خدمت به خود و وطن تان شوید. در این نشست سرپرست وزارت تحصیلات عالی به محصلان وعده داد که به اساس معیارهای تضمین کیفیت' زمینهٔ تحصیلات بهتر را به اولاد این وطن فراهم خواهد کرد، همچنان شماری از محصلان مشکلات، خواست‌ها و پیشنهادهای شان را با سرپرســت وزارت تحصیلات عالی مطرح کردند و سرپرست وزارت تحصیلات عالی در زمینهٔ حل مشــکلات و رسیدگی به خواست‌های آنان تعهد همکاری نمود.

## د بدخشان پامیرونو ته ژمنې مرستې ...

د بدخشــان واخان ولسوالۍ لرې پرتو ســیمو ته د ژمنیو مرستو لېږدولــو تر څنګ د یو کنــډک ځای پرځای کــول، د مخابراتي شــبکو انتنونو نصبول، د روغتیایي مرکزونو جوړول او ورته درمل لېږل، ځایي اوســېدونکو ته ژمنیو مرســتو رســول، ښوونځیو، ښــوونیزو مرکزونــو او د مســجدونو جــوړول، د مالیې وزارت په مرســته تر پامیره د ســړک پاتــې برخو جوړول شــامل دي.
د یادونــې وړ ده، چــې پامیریان هــر کال په ژمي کــې د ژمنیو توکو له نشــتون او د پرله پســې واورو له امله مرکز ســره د دوی د لارې د بندېــدو لــه امله له ګڼو ســتونزو ســره مــخ وي، خو ســږ کال پامیریانو ته د اســلامي امــارت له لــوري د ژمنیو او خوراکــي توکــو انتقالــول یو بــې ســاری نېــک ګام او زېری دی.

## رسانه‌های خارجی در گزارش‌های شان از ...

این در حالیســت که بعضی از رســانه‌های خارجــی از امارت اسلامی مبنی بر محدویت‌ها در کار رسانه‌ها انتقاد کرده اند. مهاجر فراهی معین امور نشرات وزارت اطلاعات و فرهنگ در مصاحبه با خبرنگار آژانس باختر گفت: در حال حاضر بیش از ســه صد رسانه داخلی و ١٤ رسانه خارجی به گونهٔ دومدار در کشور فعالیت دارند و بیش از ۷۰۰ ژورنالیست از ۲۰۰ رسانه خارجی به منظور تهیه گزارش و اخبار در افغانستان حضور دارند و امارت اسلامی سهولت‌های را برای آنها مساعد کرده است. فراهی تاکید دارد که برخی از رسانه‌های خارجی و نهادهای بین المللی ادعا کردند که امارت اسلامی برای خبرنگاران محدویت‌های را وضع کرده است که این ادعا نا درست می باشد. به گفتهٔ فراهی در حال حاضر تمام نهادهای خبرنگاری ملی و بین المللی در افغانستان فعالیت دارند و از رســانه‌های خارجی و نهادهای بین المللی خواست که در گزارش‌های شــان از واقعیت‌های چشم پوشی نکنند. معین امور نشرات وزارت اطلاعات و فرهنگ تاکید کرد که امارت اسلامی و به خصــوص وزارت اطلاعات و فرهنگ حامی خبرنگاران و رســانه‌ها است و تنها مرجع واحد را برای رسیدگی به مشکلات خبرنگاران و رسانه‌ها وزارت اطلاعات و فرهنگ می باشد.

## کمک نقدی یونیسف با ۱۱۱ هزار خانوادهٔ...

می گوید که قرار اســت در ماه‌های پیشــرو، برای ۱۱۱هزار خانوادهٔ نیازمند در این کشور کمک نقدی کند. یونیسف روز گذشــته در تویتی گفته اســت که در حال حاضر، میلیون‌ها نفر در این کشــور قادر به تامین نیازهای اولیه خانوادهٔ خود نیستند و اوضاع در زمستان پیشرو، بیشتر از این بدتر خواهد شــد. یونیسف ادامهٔ کمک‌های نقدی به خانواده‌ها را یکی از بهترین راه‌ها برای رسیدگی به نیازمندان و جلوگیری از تشدید بحران بشــری در افغانستان عنوان کرده و افزوده است که به تلاش‌هایش برای حمایت از خانواده‌های نادار در سراسر این کشــور ادامه می‌دهد. به گفتهٔ یونیسف، بسیاری خانواده‌های نیازمند در نقاط دوردست افغانستان خواستار کمک‌های نقدی اند که آنان با مقدار پول کمک شده، بتوانند نیازهای اولیهٔ شان را فراهم کنند. این اداره میگوید، این درحالیســت که چهل وشش درصد پول درخواستی یونیسف برای افغانستان آماده شــده اســت. به گفته‌این نهاد' دو میلیارد دالر در سال ۲۰۲۲ میلادی برای افغانستان درخواست کرده است که تا اکنون ٤٦ درصد این مقدار پول از سوی تمویل کنندگان پرداخت شده است.

# Shariat

Twice printed in week

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: Shariatdaily@gmail.com
WWW: dailies.gov.af / shariat :ویب سایت

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رييس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤول مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: Shariatdaily@gmail.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوي ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Thursday 24 November 2022 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 104


د کرنې وزیر افغانستان کې د ملګرو ملتونو استازو ته:

## تر ډېره په زېربنايي او بنسټيزو برخو کار وکړئ



شــریعت: د کرنــې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت سرپرست مولوی عطاءالله عمري په افغانســتان کې د ملګرو ملتونو استازې مېرمن روزا اوتونبایوا، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو پر وړاندې د مبارزې دفتر له اســتازې مېرمن انوبا سود او د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنــې ادارې له رییس سره وکتل.

پــه دې لیدنه کې د کرنــې وزير د ملګرو ملتونو له چارواکو وغوښتل، چــې د افغانســتان خلکو ســره د زېربنايــي او اساســي فعالیتونو په برخه کې همکاري او د دوی ملاتړ وکړي.

د کرنــې وزيــر وويــل: «اوس د افغانســتان په ټولو سیمو کې امنیت ټینګ شــوی، خلک شــپه او ورځ کــولای شــي، چې کار وکــړي او وګرځــي، د امارت د مشــرتابه له خوا د نشــه يي توکو کرکېله هم منع اعلان شــوې، چې د کرنې وزارت کارکوونکو د هېواد په ټولو ولایتونو کــې د امنیتــي چارواکو ســره په همکارۍ او همغږۍ د مخدره توکو د کرکیلې مخه نیسي، نو په همدې موخه اړتیا ده، چې نړۍ او...۷مخ

## ستایش و قدردانی مسوولان صلیب سرخ از همکاری و حمایت امارت اسلامی

شریعت:رئیس عملیاتی کمیته بین المللی صلیب سرخ در افغانستان در دیــدار با رئیس عمومی دفتر ریاست الوزراء از حمایت امارت اســلامی از برنامه‌های آن کمیته در افغانستان قدردانی کرده گفت که فعالیت صلیب ســرخ در این کشور دو برابر شده است و آنان همچنان متعهد بــه حمایت از مردم افغانستان اند.

دفتر مطبوعاتی ریاســت الوزرا دیروز با نشــر خبر نامه یی گفته اســت: داکتر عبدالواسع رئیس عمومــی دفتر ریاســت الوزراء امارت اسلامی افغانستان با هیئت کمیته بین‌المللی صلیب ســرخ به ریاســت مارتین شوپ رئیس عملیاتی این نهاد که از... ص۷



مسوولان محلی ولایت پروان:

## فرمان عالیقدر امیرالمومنین در رابطه به واپس گیری املاک غصب شده به گونهٔ جدی تطبیق می‌شود

شریعت: مســئولان در ولایت پــروان: فرمــان امیرالمومنیــن ‹ حفظه الله› در قســمت واپس گیری املاک غصب شده دیروز در یک نشست تخنیکی توضیح و تشریح شد.

در این نشست که تحت ریاست والی پروان برگزار شــده بود، مســئولان ادارات متعهد شدند که ایــن فرمان را به گونۀ جدی تطبیق و عملی می‌سازند.

مولوی عبیــدالله امین زاده والی پروان گفــت: املاکــی که در طول چهل ســال از سوی افراد غاصب بــه دلیل عدم حاکمیت شــریعت، نبود حکومت مقتدر و فرصت‌های دیگر غصب شده است باید دوباره استرداد گردند.

مولــوی محمد رحیــم نعمانی رئیــس زراعــت، می‌گوید که در حــال حاضر بیــش از هزار جریــب زمین در ایــن ولایت غصب شــده اســت که نظر به فرمان امیرالمومنین ‹حفظه‌الله›، زمین‌های غصب شــده ملکیت بیت المال بــوده و باید دوباره استرداد شوند.

رئیس حج و اوقــاف، از ابلاغ فرمان امیرالمومنین از طریق منابر اطمینان داد.

## د بغلان لرې پرتو روغتیايي مرکزونو ته درمل او طبي وسایل ولېږل شول



شــریعت: د بغلان د عامــې روغتیا مسوولین وايي، چې د ژمي موسم له پیلېدو سره سم د بغلان په ۵ ولسوالیو کې ۸ روغتیايي مرکزونه، چې سختې لارې لري د ۵ میاشــتو لپاره درمل او سون توکي ورکړل شول.

د بغــلان د عامې روغتیا رییس ډاکټر احمد مسعود احمدي وايي، چې دغه مرکزونه په خوست، بنو، برکه، جلګه او دوشي ولسوالیو په لرې پرتو سیمو کې فعالیت کوي. د نوموړي په خبره، مخکې له دې د واورې اورښــت له امله د یادو مرکزونو ترانسپورټي لارې تړلــې وې او د روغتیايي خدمتونو د رســولو مخه يې نیولې وه. د یادونې وړ ده، چــې اوســمهال د روغتیايي پرسونل په هلو ځلو د بغلان ۹۰ سلنه خلک روغتیايي خدمتونو ته لاسرسی لري.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست:

## کندهار او هلمند کې به سیلانیانو ته زیاتې اسانتیاوې برابرې شي



شــریعت: د اطلاعاتــو او فرهنګ سرپرست وزیر ملاخیرالله خیرخواه د کندهار ولایــت مقام کې د هلمند والي مولوي طالــب او د کندهار له والي حاجي محمد یوسف وفا سره په کتنه کې پر بېلابېلو موضوعاتو خبرې وکړې.

په دې کتنه کې ملاخیرالله خیرخواه وویل، چې کندهار ته يې د خپل سفر موخه دا ده، ترڅو د کندهار او هلمند په یوشمېر سیلاني سیمو کې بهرنیو ســیلانیانو ته د تفریح ښه زمینه برابره کړي.

هغه په خپلو خبرو کې خوښي وښوده، چې د افغانســتان اسلامي امارت په راتګ سره په زرګونه بهرنیو... ۷مخ

## افزایش عواید ریاست آبرسانی هرات



شریعت: مســؤولان در ریاست آبرســانی و کانالیزاسیون شهری هرات می‌گویند که عواید شش‌ماه نخســت ایــن اداره نســبت به شش‌ماه اول سال گذشته افزایش یافته است.

انجنیر محمد نــادر کاکړ رئیس آبرســانی و کانالیزاسیون شهری هــرات می‌گوید: ایــن اداره در شش‌ماه اول ســال ۱٤۰۱ حدود ۱٦۸ میلیون افغانی عواید داشته است که نسبت به سال...ص۷

## آغاز کار بازسازی ١٦ کیلومتر سرک در غور

شریعت: کار بازسازی شانزده کیلو متر سرک در شهر فیروزکوه مرکز غور دیروز آغاز گردید.

مولوی عبدالکریم ابو شــعیب، رئیس فواید عامه غور می‌گوید: این ســرک به هزینهٔ یک میلیون و چهارصد هزار افغانی، از بودجه وزارت فواید عامه، از استقامت قلعه‌سر سنگ الی بازار شوربا شهر فیروزکوه مرکز غور به طول شانزده کیلو متر بازسازی می شود.

این سرک ۶ ولسوالی غور را که در غرب و جنوب غرب این ولایت قرار دارند را به مرکز غور وصل می کند.

د امربالمعروف وزارت:

## تر اوسه ۸۴۷ جوماتونه نوي جوړ شوي او فعال شوي




د افغانستان اســلامي امارت له بريا وروســته د امربالمعــروف وزارت د فعالیتونــو په جریان کــې د هېواد په پلازمېنه سربېره په ډېرو ولایتونو کې د محتسبینو په مرسته د دې ولایتونو د مرکزونو په شمول په بېلابېلو ولسوالیو کې ۸۴۷ مسجدونه فعال او دروازې يې د لمونځ کوونکو پر مخ خلاصې شوې دي.

د باختر اژانس د خبر له مخې؛ له دې جملې ۴۰۰ جوماتونــه په پلازمېنه کابل کې فعال شول، چې له دې ډلې ۲۶۹ جوماتونه د اقامه او آذان لپاره تیار او پاتې نور يې د جوړېدو په حال کې دي.

او دغه راز ۱۱۴ جوماتونه په بدخشان کې فعــال شــوي، ۱۳۲ جوماتونه په لوګر کې بېرته له سره فعال شوي، چې له جملې يې ۳۲ جوماتونه نوي جوړ شوي، چې له دې ډلې ۹۲ هغه وو چې دروازې يې د لمونځ... ۷مخ

## بازپسگیری ساختمان کتابخانهٔ عامه بدخشان از چنگ غاصبین

شریعت: ساختمان غصب شدهٔ کتابخانه عامه بدخشان دوباره به ریاست اطلاعات و فرهنگ آن ولایت تعلق گرفت.

تعمیر کتابخانه عامه ریاســت اطلاعات و فرهنگ بدخشــان که از سال ۱۳۵۸ با بروز جنگ های داخلی در گرو افراد مسلح زورمند قرار گرفته بود، دوباره به آن ریاست تسلیم داده شد.

معزالدیــن احمــدی رئیــس اطلاعات وفرهنگ بدخشــان گفت: تعمیر کتابخانه... ص۷

## دوو صرافانو خپلې غلا شوې پیسې بیرته ترلاسه کړې

شــریعت: د کابل د امنیې قومندانۍ مســوولین وايي، چې د کابل ښار د ۱۸مــې امنیتي حــوزې اړوند د پل خشک په ســیمه کې له ۲ صرافانو څخه غلا شوې پیسې یې ترلاسه او بېرته یې خپلو خاوندانو ته ســپارلې دي.

د کابل د امنیې قومندانۍ... ۷مخ



## سازمان ملل و بنیاد آغا خان به بیجا شدگان داخلی قرضه می‌دهند

کمیســاری عالی ســازمان ملل متحد در امور پناهندگان و بنیاد آغا خان دیــروز تفاهمنامه‌ی را امضا کردند که به موجب آن به بیجا شدگان داخلی در افغانستان قرضه داده میشود.

بر اســاس این تفاهمنامه بیجا شــدگان داخلی در ولایتی که مســکن گزین شــده اند از ۲۵ هزار تا ســه صد هــزار افغانی قرض بــدون پرداخت ســود دریافت خواهند کرد.

این نخســتین طرح مشــترک حمایت از اشــتغال یابی برای آوارگان داخلی در افغانســتان است. ص۷

## رهایی ده جریب زمین از نزد غاصبین در هلمند



شریعت: کمیسیون وارسی آبدات تاریخی در هلمند روز گذشته، ده جریب زمین را در ساحه زیارت شهزاده بابا و شهدا شهر لشکرگاه از غاصبان واپس گرفت.

حافظ مولوی حمدالله مدثر، مدیر آبدات تاریخی ریاست اطلاعات و فرهنگ هلمند می گوید: تا کنون زمین‌های بسیاری در ساحات‌های تاریخی ولسوالی‌های... ص۷

## د مدافع وکیلانو د ارزونې بهیر په اړه د عدلیې وزارت خبرتیا

هغو مدافع وکیلانو ته خبر ورکول کېږي، چې د ارزونې له بهیر څخه پاتــې دي کــه څه هــم د مدافع وکیلانو د ریاســت لــه مخکښې خبرتیا سره ســم د ارزونې بهیر د روان کال د لړم په میاشت کې پای ته رســیده، خو د مدافــع وکیلانو د غوښتنې پر اســاس دغه بهیر د څلورو نــورو پړاونو له پاره تمدید شــوی او په پام کې ده، چې دغه بهیر په میاشت کې یو ځل د روان کال د کب تر میاشتې پورې په لار واچول شي.

لــه دې املــه هغه شــمېر مدافع وکیلانو ته خبر ورکول کېږي، چې له دغه بهیــر څخه پاتې دي، چې د ۴۱ دورې د نــوم لیکنې له پاره، چې د لېندۍ میاشــت په ۲۲ مه نېټه ترسره کېږي اداري مدیریت ته مراجعه او نوم لیکنه وکړي.

د یادونې وړ ده چې د نوم لیکنې د دغې دورې له پاره د لېندۍ ۲۱ مه نېټه ټاکل شوې ده.

### توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!

شریعت جریده داسلامي مبارزې یو رسا غږ او ریښتینې هینداره ده، نو له ټولو مخلصو او با احساسه دعوتګرانو او دردمنو لیکوالانو هیله من یو چې موږ سره خپلو قلمي همکاریو ته دوام ورکړي.